في سلسلة معرفة الرحيم الرحمان

شپږم درس

أحمد الله وأسبّحه بعلوّه وكماله الذي خلق السموات والأرض على مِنواله ونُوِّرَت بنوره وزُيِّنَتْ بجماله ثم استوى على العرش لائقا بذاته وجلاله ولا يخفى عليه شيئ من أمور العالم وأفعاله وعليم بجميع أحواله وأعلن الفوز لمن امتثل بإنزاله وإرساله وأصلي وأسلّم على رسوله ونبيه محمد وعلى أهل بيته وأصحابه وآله، أمابعد:

محترمو مسلمانو ورورنو او خويندو!

مخکې د عقيدې په ذکر شوي بحث کې مونږ د لوی الله په توفيق سره د الله تبارک وتعالی د ذات په اعتبار سره په مطلق علو باندې د رسول الله صلی الله عليه وسلم د احاديثو نه دلايل ذکر کړل، اوس په دې شپږم درس کې په مذکوره دعوې د رسول الله صلی الله عليه وسلم د صحابه کرامو او تابعين عظامو اقوال ذکر کوو.

دفع القلق والمهابة

بإثبات هذه العقيدة عن خير البرية الصحابة

مخکې فصل کې تاسو د قران نه بعد د احاديثو نه هم د دې عقيدې اثبات ملاحظه کړ چې الله رب کريم د ذات په اعتبار سره بره فوق سبع سماوات دی، اوس د کتاب او سنت څخه د دې ثابت عقيدې دغه اعتقاد د رسول الله صلی الله عليه وسلم د صحابه کرامو رضوان الله عليهم اجمعين څخه هم واورئ.

(١) ابوبکر الصديق رضی الله عنه کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفات شو او صحابه کرام د يو لوی غم او مصيبت سره دچار شول نو ابوبکر رضی الله عنه د عمر رضی الله عنه د خطبې په مقابل کې خطبه کوي او فرمايي:

من كان يعبد محمدا فإنه قد مات، ومن كان يعبد الذي في السماء فإنه حي لا يموت"

ژباړه: چا چې د محمد عبادت کاوه نو يقينا هغه وفات شو، او چا چې د هغه چا عبادت کاوه چې هغه په اسمان کې دی، نو بې شکه هغه ژوندی دی مرګ پرې نه راځي.

أخرجه الدارمي في الرد على المريسي ص٤٦٣ -ضمن عقائد السلف او ابن قدامة په إثبات صفة العلو ص١٠١ ــــ ١٠٢ أو علامه ذهبي په العلو ص٦٢.أو ابن القيم رحمه الله په اجتماع الجيوش الإسلامية ص ١١٩ کې ذکر کړی دی.

(٢) عمر بن الخطاب رضی الله عنه د ده رضی الله عنه نه هم تقريباً ډيرو تفسيرونو دغه واقعه نقل کړي، چې عمر رضی الله عنه کله يوې زنانه په لار کې ودرولو او خبرې يې ورسره کولې نو د ده له ملګرو نه يو کس هغه ته وفرمايل "يا أمير المؤمنين حبست الناس على هذه العجوز"

ژباړه: ای امير المومنين ته د دې بوډۍ په وجه د نورو خلکو د ملاقات نه حصار شوې فقال: نو عمر رضی الله عنه ورته وفرمايل "ويلك أتدري ما هي؟

ژباړه: های هلاک شي ته خبر يې دا څوک ده؟ "هذه امرأة سمع الله شكواها من فوق سبع سموات"

دا خو هغه ښځه ده چې شکايت يې الله تبارک وتعالی د اوو اسمانونو نه بره اوريدلی وو. هذه خولة التي أنزل الله فيها دا خوله ده هغه خوله چې الله تبارک وتعالی يې په شان کې دغه کلام نازل کړی چې فرمايي:

{قد سمع الله قول التي تجادلك في زوجها} وګوره العرش للذهبی ٢/١٦٣ اوالرد علی الجهمية ص٢٧۴ دامام دارمی اوبيهقی رحمه الله هم په الأسماء والصفات ٢/٣٢٢ رقم الأثر ٨٨٦ باندې ذکر کړی دی.

(٣) عثمان بن عفان رضی الله عنه عبد الرحمن بن عوف رضي الله عنه فرمايي: چې کله ما د عثمان رضی الله عنه لپاره بيعت واخيسته او خلکو هم ورسره بيعتونه وکړل نو فرمايي چې: رفع رأسه إلى سقف المسجد وقال: "اللهم اشهد"

نو عثمان رضی الله عنه سر د مسجد د چت (مراد ترينه بره اسمان طرف سر اوچتول دي) طرف اوچت کړ، او ويې فرمايل: ای الله ته ګواه اوسه. وګوره العرش للذهبی ٢/١٦۴ العلو لذهبی ص٦٣ ابن خزيمه فی التوحيد ١/٢٤٢ الأسماء والصفات للبيهقی ٢/٢٤٢

(۴) عبدالله بن مسعود رضی الله عنه د ابن مسعود رضی الله عنه نه روايت کړی دی فرمايي:

چې څوک سبحان الله، والحمدلله، والله أكبر، ووايي "نو تلقاهن ملك فعرج بهن إلى الله تعالى" نو يوه ملايکه يې واخلي او دغه کلمات د الله طرف ته پورته کوي.

فلا يمر بملأ من الملائكة إلا استغفروا لقائلهن، حتى يجيء بهن وجه الرحمن" نو دوی په يوه ډله د ملائکو نه ورتيريږي مګر دا چې هغوی د دې ويوونکي ته مغفرت غواړي، تر دې چې دغه کلمات دا ملايکه د رحمان ذات مخې ته ورسوي، امام ذهبی رحمه الله دغه اثر نقل کوي او فرمايي: أخرجه العسال وإسناده كلهم ثقات وګوره العرش ٢/١٦٥ دغه ډول دا اثر ابن القيم په اجتماع الجيوش الاسلاميه ص ٢٥٢ کی هم ذکر کړی او فرمايلي يې دي اخرجه العسال باسناد كلهم ثقات.

(٥) عبدالله بن عباس رضي الله عنهما دی ده به فرمايل:

فكروا في كل شيء ولا تفكروا في ذات الله، فإن بين السموات إلى كرسيه سبعة آلاف نور، وهو فوق ذلك سبحانه وتعالى"

ژباړه: په هر څه کې د کيفيت متعلق فکر کوئ خو د الله په ذات کې دغه فکر مه کوئ ځکه د اسمانونو او د هغه د کرسی تر منځه اوه ٧ زره د نور پردي دي، او الله تعالی د هغې نه هم بره دی. العرش للذهبی ٢/١٧١ الترغيب والترهيب للأصبهانی ٢/١٧٣ اثبات صفة العلو لابن القدامة ص١٠٦ ــــ١٠٧

توفيق المعبود بذكر الخلاصة و المقصود

محترمو لوستونکو!

دلته د دې صحابه کرامو د دې اثارو نه ښکاره معلومه شوه چې دوی هم الله تبارک وتعالی په فوقية بالذات باندې قائل وو، او همدا اعتقاد د کتاب او سنت څخه ماخوذ او ثابت اعتقاد دی، کوم چې مخکې تاسو ملاحظه کړو، نو د کتاب او سنت او د صحابه وو د اقوالو نه معلومه شوه چی الله تبارک وتعالی د اسمانونو نه بره دی.

دې باب کې به د صحابه کرامو نور اقوال د عرش د اثبات په باب کې ذکر شي، ان شاء الله تعالی.

نو د کتاب او سنت نه د دغې ثابت او سپيڅلې عقيدې دغه جازم اعتقاد چې څنګه تاسو د صحابه کرامو رضوان الله عليهم څخه بالدلائل ملاحظه کړ اوس راشئ او دې لاندې را روان فصل کې دغه اعتقاد لږ د صحابه وو د شاګردانو تابعينو رحمهم الله څخه هم واورئ.

دفع المكر والمكيدة بذكرالشواهدعن التابعين باثبات هذه العقيدة

نو راځو او په توفيق د لوی الله تبارک وتعالی د اهل زيغو هغه مکر او کيد هم دفع کوو چې هغوی د الله تعالی متعلق د فوقيت عقيده تجسيم

ګڼـي او منونکـو تـه يـې مجسـمه او دغـه ډول قسـم قسـم بـې کاره القـاب ورکـوي، او دغـه عقيـده د سـلفو څخـه نفـي کـوي. نـو اوس د يـو څـو تابعينـو هغـه اقـوال ذکـر کـوو چـې هغـه دليـل وي پـه دې چـې د دوی عقيـده هـم د اللـه تبـارک وتعالـی پـه بـاره کـې د فوقيـت متعلـق د قـران حديـث او صحابـه کرامـو غونـدې وه.

(۱) کعـب الاحبـار رحمـه اللـه چـې ده د ابوبکـر رضـی اللـه عنـه پـه خلافـت کـې اسـلام راوړی او د عثـمان رضـی اللـه عنه پـه خلافـت کـې وفـات شـوی چـې عمـر يـې تقريبـاً د سـل کالـو څخـه اوختـې وو، کـما فـی الکاشـف ص ۳/۹ وتقريـب التهذيـب ص۸۱۲ دغـه جليـل القـدر تابعـی فرمايـی قال الله في التوراة: أنا الله فوق عبادي،......... اللـه تعالـی پـه تـورات کـې فرمايلـي: زه اللـه يـم د خپلـو بنـده ګانـو نـه بـره يـم ...... العـرش للذهبـی ۲/۱۸۷ وأخرجـه ابـن بطـة فـی الابانـة ۳/۱۸۵ و الجيلانـی فـی الغنيـة۱/۵۷

(۲) حسـن بـصری رحمـه اللـه چـې دا هـم جليـل القـدر تابعـي او د بـصرې اوسـيدونکی دی لـه ده څخـه پـه ثابـت سـند سره نقـل دي چـې ده وفرمايـل: سمع يونس عليه السلام تسبيح الحصا والحيتان، فجعل يسبح، وكان يقول في دعائه: سيدي في السماء مسكنك، وفي الأرض قدرتك" وذکر الحديث يونـس عليـه السـلام پـه بحـر کـې د کاڼـو او ګيټکيـو تسـبيحات واوريـدل نـو شروع شـو چـې تسـبيح يـې ويـل او پـه دعـاء کـې يـې ويـل: چـې ای زمـا هغـه بـاداره چـې ځـای د اوسـيدو دی پـه اسـمان کـې دی، او قـدرت دی پـه ځمکـه کـې دی ...... صفـة العلـو لابـن القدامـة ص ۹۶ رقـم الاثـر۵۹ العـرش للذهبـی ۲/۱۸۹ يـاد دي وي چـې د سـماء نـه مـراد علـو او اوچـت والـی دی کـما مـر فيفصـل سطر النقاط بحل شبهة النفاة.

(۳) مسروق بـن الأجـدع الهمدانـی رحمـه اللـه چـې دا هـم د ډيـرو صحابـه کرامـو شـاګرد دی، د ده متعلـق صحيـح نقـل دی چـې ده بـه کلـه هـم لـه عائشـې مـور څخـه حديـث ذکـر کولـو نـو فرمايـل بـه يـې حدثتني الصديقة بنت الصديق حبيبة حبيب الله، المبرأة من فوق سبع سموات"

ماتـه ريښـتوني زنانـه د ريښـتوني سـړي لـور او د اللـه د دوسـت (رسـول اللـه صلـی اللـه عليـه وسـلم) محبوبـې هغـې زنانـه چـې پاکـي يـې پـاس د اوو۷ اسـمانونو نـه راغـلي ده (هغـې راتـه) دا حديـث بيـان کـړی دی العـرش للذهبـی ۲/۱۹۱ طبقـات ابـن سـعد۸/۶۶ والشريعـة للآجـری ۵/۲۴۰۴ والحليـة لأبـی نعيـم ۲/۴۴

(۴). امـام مفـسر مجاهـد رحمـه اللـه چـې دا د عبداللـه بـن عبـاس رضـی اللـه عنهـما مشـهور شـاګرد او جليـل القـدر امـام او تابعـي دی، موصـوف د اللـه تبـارک وتعالـی د دې وينـا متعلـق چـې { فخلف من بعدهم خلف} تفسـير کـوي او فرمايـي: هم في هذه الأمة يتراكبون كما تراكب الحمر والأنعام في الطرق، ولا يستحيون الناس في الأرض، ولا يخافون الله في السماء"

ژبـاړه: دا بـه پـه دې أمـت کـې (داسـې خلـک) وي چـې يـو پـه بـل بـه داسـې ځوريـږي لکـه څنګـه چـې پـه لارو کـې خرونـه او نـور څـاروي يـو پـه بـل ځوريـږي نـه بـه دوی ځمکـه کـې د انسـانانو نـه حيـاء (شرم) کـوي او نـه بـه (د هغـه) اللـه نـه ويريـږي چـې پـه اسـمان کـې دی. وګـوره تفسـير مجاهـد ص۲۵۶ تفسـير الطـبری ۱۶/۷۵ واجتـماع الجيـوش الاسـلامية ص۲۵۷ والعـرش للذهبـی ۲/۱۹۶

(۵) سـعيد بـن جبيـر رحمـه اللـه چـې دا هـم مشـهور تابعـي دی، د ده نـه هـم پـه سـند سره نقـل دي چـې فرمايـي: د بنـي اسرائلـو د بادشـاهانو څخـه د يـو بادشـاه پـه زمانـه کـې څـو کلونـه قحـط سـالي راغلـه نـو بادشـاه وويـل چـې يـا بـه اللـه پـه مونـږ بـاران کـوي او يـا بـه مـوږ اللـه تـه تکليـف ورسـوؤ، نـو پـه مشـاورينو کـې ورتـه چـا وويـل تـه بـه څنګـه پـه دې قـدرت وومـې حـال دا چـې هغـه (اللـه) پـه اسـمان کـې دی نـو بادشـاه وويـل: زه بـه د اللـه دوسـتان قتـل کـړم، نـو پـه دې (خـبرې) سره اللـه بـاران ووراوه. وګـوره العـرش للذهبـي ۲/۱۹۷ ابونعيـم فـی الحليـة ۴/۲۸۲ اثبـات صفـة العلـو لابـن قدامـه ص۹۷ (۶) سـليمان بـن طرخـان التيمـی البـصری رحمـه اللـه بـه فرمايـل: لو سئلت أين الله؟ لقلت في السماء.

کـه چيرتـه لـه مـا پوښـتنه وشي چـې اللـه چيرتـه دی، نـو زه بـه ورتـه حتـماً ووايـم چـې اللـه پـه اسـمان کـې دی. خلـق افعـال العبـاد للبخـاری ص۱۱ اثبـات صفـة العلـو لابـن قدامـة ۱۱۴

(۷) عبيـد بـن عميـر الليثـي رحمـه اللـه هـم يـو لـه هغـو امامانـو څخـه دی چـې پـه توثيـق يـې اجـماع ده.

کـما فـی الکاشـف ۲/۲۰۹ موصـوف فرمايـي: ينزل الرب عز وجل شطر الليل إلى السماء الدنيا فيقول: من يسألني فأعطيه، من يستغفرني فأغفر له، حتى إذا كان الفجر صعد الرب عز وجل. ژبـاړه: زمونـږ رب عزّوجـل نيمـه شـپه د دنيـا اسـمان تـه راکوزيـږي او فرمايـي: څـوک دی چـې لـه مانـه څـه وغـواړي او زه يـې ورکـړم څـوک دی چـې لـه مانـه مغفـرت وغـواړي او زه ورتـه بښـنه وکـړم تـر دې چـې سـحر شي نـو بيـا زمونـږ رب بـره خيـږي، وګـوره السـنة لعبداللـه بـن احمـد ۱/۲۷۲ اجتـماع الجيـوش الاسـلاميه لابـن القيـم ص ۲۵۹ العلـو للذهبـي ص۹۳ والعـرش لـه ۲/۲۰۵

(۸) بـل د مکـي مشـهور قـاري عمـر بـن عبدالرحـمان بـن محيصـن المکـی رحمـه اللـه چـې د مسـلم ترمـذي او نسـايي لـه راويانـو څخـه دی، ده بـه د "وفي السـماء رزقكـم وماتوعـدون" قـراءت داسـې کولـو: وفي السـماء رازقكـم ومـا توعـدون. ژبـاړه: پـه اسـمان کـې ستاسـو رازق (روزي درکوونکـی) دی او هغـه څـه هـم چـې وعـده يـې لـه تاسـو سره کيـږي، وګـوره العـرش للذهبـی ۲/۲۱۵ کتـاب اتحـاف فضـلاء البـشر....۲/۴۹۲

(۹) ايـوب بـن ابي تميمـة کيسـان السـختياني چـې دا هـم يـو لـوی ثقـه ثبـت محـدث او دصحاحـو راوي دی، چـې د لويـو فقهـاو او عبّـادو څخـه دی، حـماد بـن زيـد فرمايـي: چـې مـا لـه ده څخـه واوريـدل چـې د معتزلـه وو متعلـق يـې وفرمايـل: إنما مدار القوم على أن يقولوا ليس في السماء شيء.

ژبـاړه: بـې شـکه عقيـده د دې قـوم دا ده چـې دوی وايـي چـې پـه اسـمان کـې هيـڅ هـم نـه شـته، وګـوره العـرش للذهبـی ۲/۲۱۸ او همـدا اثـر يـې پـه خپـل کتـاب العلـو ص۹۸ کـی هـم نقـل کـړی او متعلـق يـې فرمايلـي: هذا إسناد كالشمس وضوحا، والاسطوانة ثبوتا عن سيد أهل البصرة وعالمهم:

دا سـند د بـصرې د سردار او عـالم لکـه د لمـر پـه شـان داسـې روښـان او واضـح دی او د سـتنې(پايې) غونـدې مضبـوط ثبـوت لـري او دغـه اثـر يـې پـه سـيراعلام ۶/۲۴ کـی هـم نقـل کـړی دی.

(۱۰) ثابـت بـن اسـلم البنـاني رحمـه اللـه چـې دا هـم د جليـل القـدر تابعينـو څخـه دی دا فرمايـي: داود عليه السلام بـه ډيـر اوږد لمونـځ (قيـام) کولـو بيـا بـه يـې رکـوع وکـړه بيـا بـه يـې سر اوچـت کـړ اسـمان طـرف تـه او ويـل بـه يـې: إليك رفعت رأسي يـا عامـر السـماء نظـر العبيد إلى أربابها يا ساكن السماء" ژبـاړه: سـتا طـرف تـه مـې سر را اوچـت کـړی ای د اسـمان ابادونکيـه! داسـې درتـه ګـورم (اميـد لـرم) لکـه څنګـه چـې غلامـان خپلـو بادارانـو تـه اميـد لـري، ای د اسـمان اوسـيدونکيه! دا اثـر اللالكائي پـه شرح أصول اعتقاد أهل السنة والجماعة ۳/۴۰۰ رقـم الأثـر۶۶۹ بانـدې ذکـر کـړی او امـام أحمد رحمـه اللـه پـه الزهد ص۱۱۱ او ابن قدامة پـه إثبات صفة العلو ص ۹۵ ـ۹۶ کـی پـه رقـم ۵۸ أو ذهبي پـه العلو ص۵۵ ۱وص۹۶ کـی هـم ذکـر کـړی او د هغـې نـه بغيـر يـې پـه الأربعين في صفات رب العالمين کـې هـم ص۵۸ کـې پـه رقـم ۳۷ ذکـر کـړی .أو ابن القيم رحمـه اللـه دغـه اثـر پـه اجتماع الجيوش الإسلامية ص۲۶۸ کـې هـم ذکـر کـړی تلـک عـشرة کاملـة

توفيق المعبود فی ذکر الخلاصة و المقصود

دلتـه پـه پورتـه ذکـر شـوي فصـل کـې د جليـل القـدر او معظمـو تابعينـو رحمهـم اللـه څخـه مـو تاسـو تـه يـو څـو هغـه أقـوال نقـل کـړل چـې د هغـې نـه ښـه صفـا بـلا تـردد والتأويـل دا معلوميـږي چـې د اللـه تبـارک وتعالـی د فوقيـت بالـذات پـه اثبـات کـې د هغـوی هـم دغـه عقيـده وه کومـه چـې ذکـر شـوه، چـې خلاصـه او مقصـود د دې بحـث څخـه هغـه دا ثابتـول دي چـې دغـه تابعينـو چـې د بـې شـماره صحابـه کرامـو سره يـې صحبتونـه او مجلسـونه شـوي او د هغـوی څخـه يـې مخامـخ رؤيـةً او مشـافهةً د ديـن عقيـدې او شرعـي احکامـو اخـذ کـړی دی دوی هـم د کتـاب او سـنت موافـق د صحابـه کرامـو غونـدې دغـه عقيـده لرلـه چـې اللـه تبـارک وتعالـی د ذات پـه اعتبـار سره بـره دی او هيـڅ انسـان پـه صحيـح سـند سره دا نـه شي ثابتولـی چـې لـه تابعينـو څخـه يـو هـم د دې عقيـدې نـه انـکار کـړی وي او يـا يـې هـم پـه هغـې کـې تاويـل او تحريـف کـړی وی کـما فـی الحمويـة الکـبری لابـن تيميـة الحرّانـی ص ۲۲۰ او همـدا د قـران سـنت او اجـماع د امـت نـه ثابتـه هغـه عقيـده ده چـې پـه دې کـې بـه شـک تـردد انـکار او يـا هـم تأويـل او تحريـف د اهـل الزيـغ عمـل ګڼـل کيـږي او لـه دې نـه ناخـبره او جاهـل بـه پـه خپـل رب خالـق او معبـود بانـدې جاهـل او د هغـه نـه ناخـبره وي، والعيـاذ باللـه تعالـی

الغاية المرسومة بنقل اجماع فوقية الله عن علماء الأمة المرحومة

مخکـې فصلونـو کـې مونـږ بتوفيـق اللـه تعالـی د قـران او حديـث نـه واخلـه تـر تابعينـو دا خـبره ثابتـه کـړه چـې اللـه تبـارک وتعالـی د ذات پـه اعتبـار سره د اوو ۷ اسـمانو د پاڅـه دی او همـدا د امـة د اوائلـو نـه نقـل شـوي ثابـت جـازم او راسـخ هغـه اعتقـاد دی چـې يـو مخالـف يـې هـم پـه لاس کـې دليـل نـه لـري شـيخ الاسـلام ابـن تيميـة رحمـه اللـه د دې متعلـق فرمايـي: ثم ليس في كتاب الله، ولا في سنة رسول صلى الله عليه وسلم، ولا عن أحد من سلف الأمة لا من الصحابة والتابعين، ولا عن أئمة الدين ـ الذين أدركوا زمن الأهواء والاختلاف ـ حرف واحد يخالف ذلك، لا نصا ولا ظاهرا.

ولم يقل أحد منهم قط: إن الله ليس في السماء، (ژبـاړه) نـو نشـته نـه د اللـه پـه کتـاب او نـه د رسـول اللـه صلـی اللـه عليـه وسـلم پـه سـنت کـې او نـه د يـو کـس نـه پـه سـلفو د امـت کـې چـې صحابـه دي او بيـا تابعيـن او د ديـن امامـان دي، کومـو چـې د خواهشـاتو او

اختلافاتو ادوار مونډلي په دوی کې له یو ځخه یو حرف هم داسې څوک نه شي ثابتولی چې هغه د دې (عقیدې) خلاف وي نه د نص او نه د ظاهر په طریقې سره او نه بلکل یو کس په دوی کې دا ویلي، چې الله په اسمان کې (بره ـ پاس) نشته دی، وګوره: الحمویه الکبری ص(۲۲۰) نو په دې مناسبت سره اوس دې فصل کې باذن الله تعالی د امة مرحومه د جیدو او معتمدو علماوو او فقهاو ځخه دا ذکر کوو چې هغوی هم دغه اعتقاد خپله عقیده ګرځولی، اگر چې د اجماع نظر او عقیده ده، کمافي الاعتقاد للالکائي ۱/۱۹ والعرش لابن ابي شیبة ص۱۳۸ وصفة العلو لابن قدامة ص ٦۳

نو چونکې عقیده اجماعي عقیده ده، نو د ټولو علماوو اقوال او یا هم د هغوی نومونه ذکر کول زمونږ د وس او طاقت نه لاندې نه دي، اما دومره ده چې په اختصار سره به د هغو له جملې ځخه چې د الله تبارک وتعالی باره کې د فوقیة بالذات عقیده لري، د یو څو هغو علماوو نومونه ذکر کړو، کوم چې د عامو بې علمه مسلمانانو تر منځه هم ډیر مشهور دي، فضلا عن العلماء او هغه په لاندې ډول دي.

(۱) امام ابو حنیفه رحمه الله المتوفی هـ ۱۵۰ وګوره العلو للذهبی ص ۱۰۱ واثبات صفة العلو لابن قدامة ص ۱۷۰ والفقه الاکبرص ۱۷۳

(۲)امام مالک رحمه الله المتوفی هـ۱۷۹ وګوره الشریعة للآجری ص۲۸۹ وکتاب السنة لإبن احمد بن حنبل ۱/۱۰۷ والعلو لذهبي ص۱۳۸ واجتماع الجیوش ۲/۱۴۱

(۳)امام شافعی رحمه الله المتوفی هـ ۲۰۴ وګوره اجتماع الجیوش ۲/۱٦۵ او دده خپل کتاب مسند الامام الشافعی

(۴)امام احمد بن حنبل رحمه الله المتوفی هـ ۲۴۱ وګوره اثبات صفة العلوء ص۱٦۷ او الرد علی الجهمیة ص۱۴٦،۱۴۷ العقیده ص۱۰۸ روایة ابی بکرالخلال له

(۵) امام بخاري رحمه الله المتوفی هـ۲۵۴وګوره صحیح البخاري کتاب التوحید و خلق أفعال العباد ص ۴۲،۴۳

(٦) امام اوزاعی رحمه الله المتوفی هـ۱۵۷ وګوره اجتماع الجیوش لابن القیم ۲/۱۳۵

(۷)امام محمد بن حسن الشیباني رحمه الله صاحب ابی حنیفة رحمه الله المتوفی هـ ۱۸۹ وګوره اثبات صفة العلو لابن قدامة ص۱۷۰ وشرح اعتقاد.... للالکائی ۲/۴۳۳ والعلوء لذهبی ص۱۱۳

(۸) امام بن خُزیمه رحمه الله المتوفی هـ ۳۱۱وګوره اثبات صفة العلو ص ۱۸۵ و معرفة علوم الحدیث ص ۸۴ اجتماع الجیوش ۲/۱۹۳

(۹) امام ابوبکر الآجري البغدادي رحمه الله المتوفي ۳٦۰ وګوره الشریعة له ۳/۱۱۰۰

(۱۰) امام ذهبي رحمه الله المتوفی ۷۴۸ وګوره د ده خپل کتابونه العرش او العلو او الأربعین چې د الله تبارک وتعالی د همدې او نورو صفاتو په اثبات کې یې لیکلي دي .

(۱۱) شیخ الاسلام ابن تیمیه الحراني رحمه الله المتوفی هـ ۷۲۸ وګوره دده کتابونه التدمریه الحمویة تلبیس الجهمیه مجموع الفتاوی

(۱۲) ابن قدامه رحمه الله المتوفی هـ ٦۲۰ وګوره د هغه خپل کتاب صفة العلو

(۱۳) امام مسلم رحمه الله المتوفی هـ ۲٦۱ وګوره صحیح مسلم و اجتماع الجیوش ۲/۲۴۱

(۱۴)امام بیهقي رحمه الله المتوفی هـ ۴۵۸ وګوره د هغه خپل کتاب الأسماء والصفات ۲/۳۲۱ ــ ۳۲۲

(۱۵) امام عبدالله بن یوسف الجوینی رحمه الله المتوفی هـ۴۳۸ وګوره رسالة فی اثبات الاستواء والفوقیة له

(۱٦) امام ابو حامد الاسفرائنی رحمه الله المتوفی هـ ۴۰٦وګوره اجتماع الجیوش ۲/۱۹۲ والعرش للذهبی ۲/۳۵۳

(۱۷) امام ابن ابي زَمَنِین المالکی رحمه الله المتوفی هـ ۳۹۹ وګوره أصول السنة له ص ۱۱۴ اجتماع الجیوش

(۱۸) امام قرطبي رحمه الله المتوفی هـ ٦۷۱ وګوره تفسیر القرطبی۱/۲۵٦ واجتماع الجیوش ۲/۲٦

(۱۹) امام ابوجعفر الهمدانی رحمه الله المتوفی هـ وګوره مجموع الفتاوی لابن تیمیة ۴/۴۴ والعرش للذهبي ۱/۱۵۳و اجتماع الجیوش ۲/۲۷۵ و بیان تلبیس الجهمیة ۱/۵۴

(۲۰) امام بن القیم رحمه الله المتوفی هـ۷۵۱ وګوره اجتماع الجیوش

(۲۱) امام حافظ تقی الدین عبدالغنی المقدسی رحمه الله المتوفی هـ ٦۰۰ وګوره د ده کتاب عقیدة الحافظ ...ص۴۰،۴۱،۴۲

(۲۲) امام دارمي رحمه الله المتو فی ۲۸۰هـ وګوره د هغه خپل کتاب نقض الامام ابی سعید ۱/ ۲۲٦

(۲۳) امام بن منده العبدي رحمه الله المتوفی هـ۳۹۵ وګوره د ده خپل کتاب التوحید ص۴۹۴

(۲۴) امام نسایي رحمه الله المتوفی هـ۳۰۳ وګوره السنن الکبري ۷/۳۳۸ رقم الحدیث ۵۹۰٦ و ۸۱٦٦

(۲۵) امام عبدالرحمان المهدی رحمه الله المتوفی هـ ۱۹۸وګوره اجتماع الجیوش ۲/۲۱۴ خلق افعال العباد للبخاری ص۱۷

(۲٦) امام عبدالله بن احمد رحمه الله المتوفی هـ۲۹۰ وګوره السنة د ده خپل کتاب

(۲۷) امام بن جریر الطبري رحمه الله المتوفی هـ۳۱۰ وګوره اجتماع الجیوش ۲/۱۹۴

(۲۸) امام ترمذي رحمه الله المتوفي هـ ۲۹۷وګوره جامع الترمذی کتاب التفسیر تحت حدیث رقم ۳۲۳۹ واجتماع الجیوش ۲/۲۴۳

(۲۹) امام ابوالقاسم هبة الله اللالکائی رحمه الله المتوفی ۴۱۸ه وګوره د ده خپل تصنیف شرح اعتقاد اهل السنة ۳/۴۲۹

(۳۰) امام محی السنة البغوي رحمه الله المتوفی هـ ۵۱۰وګوره اجتماع الجیوش ۲/۱۹۹

(۳۱) نعیم بن حماد الخزاعي رحمه الله المتوفی هـ ۲۲۸ وګوره اجتماع الجیوش ۲/۲۲۱ العرش للذهبي ۲/۳۰۵

(۳۲) امام اسحاق ابن راهویه المروزي رحمه الله المتوفی هـ ۲۳۸ وګوره السنة للخلال و اجتماع الجیوش ۲/۲۲٦ والعرش للذهبی ۲/۱۰

(۳۳) امام عبدالله بن مسلم بن قتیبه رحمه الله المتوفی هـ ۲۷٦ وګوره د ده کتاب کتاب تأویل الحدیث فی الرد علی اعداء اهل الحدیث کاملا والعرش للذهبی ۲/۳۴۵

(۳۴) امام یحیی بن یحیی بن کثیر اللیثي رحمه الله المتوفی هـ ۲۲٦ وګوره العرش للذهبی ۲/۲۳۳

(۳۵) امام یزید بن هارون رحمه الله المتوفی هـ ۲۰٦وګوره اجتماع الجیوش ۲/۲۱۴

(۳٦) حماد بن زید رحمه الله المتوفی هـ ۱۷۹ وګوره العرش لابن ابی شیبة ص۱۵۱ العرش للذهبي ۱/۱۲۲

(۳۷) امام ابوبکر احمد بن عمرو بن أبي عاصم رحمه الله المتوفي هـ ۲۸۷ وګوره د ده کتاب السنة

(۳۸) امام ابوبکر المروزی رحمه الله المتوفی هـ ۲۷۵وګوره اجتماع الجیوش ۲/۲۰۱

(۳۹) امام ابوجعفر محمد بن عثمان بن ابی شیبة رحمه الله المتوفی هـ ۲۹۷ وګوره العرش وماروی فیه له

(۴۰) امام ابوبکر بن الأثرم رحمه الله المتوفی هـ ۲۷۳ وګوره العرش للذهبی ۲/۳۳٦

(۴۱) امام ابوبکر بن الخلال رحمه الله المتوفي هـ۳۱۱ وګوره السنة له ۱/۲٦۷

(۴۲) امام ابو شیخ الأصبهانی رحمه الله المتوفي هـ ۳٦۹ وګوره د ده خپل کتاب العظمة ۲/۵۴۱،۵۴۲،۵۴۳

(۴۳) امام ابو عبدالله بن منده العبدي رحمه الله المتوفی هـ ۳۹۵ وګوره د ده کتاب التوحید ۱/۱۱۴ و۱/۱٦۳ و۲/۱٦۹

(۴۴) امام ابو احمد العسال رحمه الله المتوفي هـ۳۴۹ وګوره د ده خپل کتاب المعرفة او العرش د امام ذهبي رحمه الله

(۴۵) امام الطبرانی رحمه الله المتوفی هـ ۳٦۰ وګوره د ده کتاب معجم الکبیر

(۴٦) امام ابو اسماعیل الأنصاري الهروي رحمه الله المتوفی هـ ۴۸۱ وګوره د هغه خپل کتاب. الصفات

(۴۷) امام ابو عمر الطلمنکي رحمه الله المتوفی هـ ۴۲۹ وګوره اجتماع الجیوش ۲/۱۴۲

(۴۸) امام ابو عمربن عبدالبر رحمه الله المتوفی هـ ۴٦۳ وګوره اثبات صفة العلو ص٦٦ واجتماع الجیوش ۲/۱۴۳

(۴۹) امام سفیان بن عیینه رحمه الله المتوفی هـ ۱۹۵ وګوره تفسیر الثعلبی واجتماع الجیوش ۲/۲۲۳

(۵۰) امام عبدالله بن المبارک رحمه الله المتوفی هـ ۱۸۱ وګوره اثبات صفة العلو وګوره درء التعارض العقل والنقل ۲/۳۴ واثبات صفة العلو ص ۱۷۱ واجتماع الجیوش ۲/۲۱۴

(۵۱) امام ابو یوسف رحمه الله المتوفي هـ۱۸۲ وګوره المعرفه لابي العسال والعرش للذهبي ۲/۲۴۷

(۵۲) امام ابو المعالي الجویني رحمه الله المتوفي هـ ۴۷۸ وګوره الحمویة الکبری ص ۵۱۴

(۵۳) سفیان الثوري رحمه الله المتوفی هـ ۱٦۱ وګوره شرح اصول اعتقاد أهل السنة ۱۵/۱۹ د لته مونږ دغه د یو څو علماوو چې د اهل السنة والجماعه د قبیلو ځخه دي حتا چې اکثر له دوی ځخه بلکې ټول د امامانو د جملې ځخه دي د هغوی اسماء ګرامي مو ذکر کړل چې له دې ځخه مونږ دا ثابتول غواړو چې هغوی د الله سبحانه وتعالی متعلق د فوقیة بالذات عقیده لرله او یو هم له دوی ځخه په دې کې تاویل اختلاف او تردد نه دی کړی دغه ډول که په دې باب کې د امة مسلمه د متقدمینو او متأخرینو نورو فقهاوو نومونه ذکر کول وغواړو نو دا په لس او شل جلده کتابونو کې هم نه ځایږي، نو تاسو به د دې ځخه دا علم او اعتقاد اخذ کړی وي چې الله تبارک وتعالی د ذات په اعتبار سره د اسمانونو نه بره دی، او همدا د مؤمن اعتقاد او د کتاب سنت او اجماع د امت سره سره د سلیم فطرت تقاضا هم ده، نو اوس راځو او د لوي الله متعال په توفیق مرسته او مدد د دې عقیدې ځلورم قسم اثبات هغه د عقل او فطرت ځخه هم کوو ان شاء الله.

الفلاح والرشاد في مسائل الجهاد ٦

شپږم درس : صحيح البخاري كتاب الجهاد

الحمـد للـه رب العالمـين والصلاة والسـلام عـلى رسـوله الأمـين وعـلى أزواجـه وأصحابـه ومـن تبعهـم في إحسـان إلى يـوم الديـن أمـا بعـد:

محترمو مسلمانانو ورونو او خويندو!

مونـږ مخكـې درس كـې د لـوى اللـه بـه توفيـق سره د الفـلاح والرشـاد پـه سلسـله واره لـړۍ، درسـونو څخـه پـه تير شـوي درس كـې د صحيـح البخـاري د كتـاب الجهـاد څخـه د شـپږم حديـث وضاحـت او تفصيـل ذكـر كـړو چـې پاتـې د تفصيـل برخـه بـه يـې ان شـاء اللـه د لـوى اللـه متعـال پـه توفيـق پـه دې درس كـې ذكـر كـړو، راځـو د شـپږم حديث پاتـې برخـې شرحـې او وضاحـت تـه.

بابٌ الحظ المزيد بإثبات من مات في سبيل ربه دون القتل فهو شهيد

پـه دې بـاب كـې غـواړو چـې د هغـه سـوال جـواب ذكـر كـړو چـې ايـا يـو انسـان جهـاد تـه ووځـي پـه دغـه لار كـې هجـرت وكـړي او دا د كفـارو سره د معركـې او قتـال نـه بغيـر وفـات شي، نـو د ده حكـم څـه دى؟ جـواب دا دى چـې ظاهـر د كتـاب او سـنت دليـل دى پـه دې چـې دا شـهيد دى اللـه سـبحانه وتعالـى پـه سـورة الحـج ٨٥ نمـبر ايـة كريمـه كـې فرمايـي:

والذين هاجروا في سبيل الله ثم قتلوا أو ماتوا ليرزقنهم الله رزقا حسنا.

ژبـاړه: او هغـه كسـان چـې دوى هجـرت كـړى دى پـه لاره د اللـه كـې بيـا دوى (د دشـمن د لاسـه) قتـل شي او يـا هـم پـه خپـل مـرګ سره وفـات شي خامخـا بـه روزي وركـړي دوى تـه اللـه سـبحانه وتعالـى خايسـته روزي.

دغـه ډول پـه سـورة النسـاء ١٠٠ نمـبر ايـت كريمـه كـې فرمايـي:

ومن يخرج من بيته مهاجرا إلى الله ورسوله ثم يدركه الموت فقد وقع أجره على الله.

ژبـاړه: او څـوک چـې ووت لـه كـور خپـل څخـه پـه داسـې حـال كـې چـې هجـرت كوونكـى وي اللـه او رسـول طـرف تـه بيـا ده لـره مـرګ راګيـر كـړي پـس بـې شـكه واقـع شـو اجـر د ده پـه اللـه بانـدې.

نـو د دې اياتونـو د عمـوم نـه معلوميـږي چـې د دوى پـه درجـه كـې فـرق نـه شـته نو دا دواړه شـهيدان دي، وجـه دا ده چـې د شـهادت لاره او سـبب يـې منتخـب كـړى نـو ځكـه يـې مرتبـه د شـهادت ګرځـي دغـه ډول پـه (١)مصنـف ابـن أبي شـيبه كـې د عمـر رضي اللـه عنـه نـه نقـل دي هغـه فرمايـي قال عمر، قال محمد صلى الله عليه وسلم من قتل في سبيل الله أو مات فهو في الجنة.

ژبـاړه: څـوک چـې د اللـه پـه لار كـې شـهيد كـړى شـو، او يـا هـم پـه خپـل مـرګ سره وفـات شـو، نـو دا شـهيد دى.

بـل (٢) دويـم حديـث دا دى مسـند احمـد كـې د عبد الله بن عتيك نـه روايـت دى چـې رسـول اللـه صلـى اللـه عليـه وسـلم وفرمايـل: (من خرج مجاهدا في سبيل الله فخر عن دابته أو لدغته حية أو مات حتف أنفه فقد وقع أجره على الله.

ژبـاړه: څـوک چـې د اللـه پـه لار كـې جهـاد كوونكـى ووځـي او دا بيـا د خپلـې سـورلۍ نـه وغورځيـږي او يـا يـې هـم مـار وچيچـي او يـا هـم پـه خپلـه بسـتره كـې بغيـر د سـبب نـه وفـات شي، نـو بـې شـكه اجـر د ده پـه اللـه دى.

بـل دريـم(٣) دليـل هغـه حديـث دى كـوم چـې أبـو مالك الأشعري رضـى اللـه عنـه د نبـي صلـى اللـه عليـه وسـلم څخـه نقل كـوي چـې فرمايـي: من وقصه فرسه أو بعيره أو لدغته هامة أو مات على فراشه، على أي حتف شاء الله، فهو شهيد.

ژبـاړه: څـوک د اسـپ يـا اوبن نـه پريوځـي او مـړ شي او يـا يـې څـه حـشره ووچيچـي او يـا بـې سـببه پـه خپلـه بسـتره بانـدې مـړ شي، او كـه پـه هرحـال چـې اللـه وغـواړي مـړ شي، نـو دا كـس شـهيد دى.

أخرجه الحاكم وقال: صحيح على شرط مسلم. دې بـاب كـې نـور هـم ګـڼ اثـار او روايـات موجـود دي خوفعـلاً پـدې مقـام كـې دغـه قـدر كافـى ګڼـم والحمـد للـه رب العالميـن.

باب درجات المجاهدين في سبيل الله

ژبـاړه: بـاب ثابـت دى پـه بيـان د درجـو د هغـو مجاهدينـو كـې چـې هغـوى پـه لاره د اللـه كـې (جهـاد كوونكـي) وي.

حصول الأجر والثواب
بتشريح الكلمات ما فى ترجمة الباب

دلتـه هـم د مخكـې پشـان د (بـاب) نـه مخكـې كلمـه د (هـذا) مقـدر ده ټـول ترجمـة البـاب بـه داسـې لوسـتلى شي، هذا باب في بيان درجات المجاهدين في سبيل الله، يقال: هذه سبيلي وهذا سبيلي قال أبو عبد الله {غزى} واحدها غاز {هم درجات} لهم درجات (ضيافـة الحـواري في ذكـر غـرض البخـاري)

يقال هذه سبيلي وهذاسبيلي ...

د امـام بخـاري رحمـه اللـه غـرض پـه دې سره هغـه دا ثابتـول دي چـې د (سـبيل) كلمـه د هغـې قبيلـي څخـه ده چـې مذكـر او مؤنـث دواړه پكـې مـراد كولـى شي، ځكـه وايـي(هـذه سـبيلي او هـذا سـبيلي)

همـدا وجـه چـې علـماء پـه {ليضل عن سبيل الله بغير علم ويتخذها هزوا.. لقـمان ٦ } كـې پـه يتخذهـا كـې (هـا) ضميـر اياتونـو د قـران تـه هـم راجـع كـوي او سـبيل تـه هـم ځكـه سـبيل مونـث هـم ده دليـل وربانـدې دا ايـت دى {قل هذه سبيلي يوسـف ١٠٨} دغـه ډول پـه قراءة د أبي بن كعب، رضي الله تعالى عنه: كـې سـورة الأعـراف (١٦٤) داسـې نقـل دى {وإن يروا سبيل الرشد لا يتخذوها سبيلا} او (سـبيل اللـه) د اللـه هغـې لارې تـه وايـې چـې اللـه پـرې د تلـو امـر كـړى وي او جمـع يـې(سُـبُل) پـه وزن د فُعُـل راځـي. قال أبو عبد الله نـه مـراد همـدا بخـاري رحمـه اللـه

(غزى) پـه ضمـې پيـش د غَيـن او پـه تشـديد د زاى سره دا جمـع د (غـاز) ده .

او بخـاري فرمايـلي د (...هم درجات) تفسـير (لهم درجات) دی معنـا يـې ده (لهم منازل) يعنـې دوی لپـاره منـزلې دي.

مطرالرحمة والسحاب
بذكر مناسبة الباب مع الكتاب

دا بـاب د کتـاب الجهـاد د ابوابـو پـه شـمير سره ځلـورم ۴ نمـبر بـاب دی، امـام بخـاري رحمـه الله پـه دې کـې دوه حديثـه ذکـر کـوي، يـو لـه ابـو هريـره او بـل لـه سـمرة بـن جنـدب رضـی اللـه عنهـما څخـه مناسـبت يـې د مخکـې بـاب سره پـه دې ډول دی چـې مخکـې بـاب کـې طلـب د جهـاد او شـهادت ذکـر شـو نـو دې بـاب کـې دا خـبره ذکـر کـوي چـې جهـاد کـې درجـې تفـاوت لـري، نـو اوچتـه درجـه ځانتـه وغـواړه او مناسـبت يـې د کتـاب الجهـاد سره هـم ښـکاره دی، چـې هغـه د جهـاد د فضيلت او غوروالـی لـه وجـې نـه د مجاهدينـو درجـې دي، واللـه أعلـم.

(۷ حديث)

(رقـم الحديث ۲۷۸۹) عن أبي هريرة رضي الله عنه، قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: من آمن بالله وبرسوله، وأقام الصلاة، وصام رمضان كان حقا على الله أن يدخله الجنة، جاهد في سبيل الله أو جلس في أرضه التي ولد فيها فقالوا: يا رسول الله، أفلا نبشر الناس؟ قال:إن في الجنة مائة درجة، أعدها الله للمجاهدين في سبيل الله، ما بين الدرجتين كما بين السماء والأرض، فإذا سألتم الله، فاسألوه الفردوس، فإنه أوسط الجنة وأعلى الجنة - أراه - فوقه عرش الرحمن، ومنه تفجر أنهار الجنة قال محمد بن فليح، عن أبيه: وفوقه عرش الرحمن.

ژبـاړه: د ابوهريـره رضي اللـه عنـه څخـه روايـت دی فرمايـي: چـې رسـول اللـه صـلی اللـه عليـه وسـلم وفرمايـل چـا چـې پـه اللـه او د هغـه پـه رسـول ايمـان راوړ او د لمونځ پابنـدي يـې وکـړه او د رمضـان د مياشـتې روژه يـې ونيولـه نـو حـق دی پـه اللـه دا چـې داخـل بـه کـړي هغـه لـره جنـت تـه کـه جهـاد يـې کـړی وي د اللـه پـه لار کـې او کـه (نـه يـې وي کـړی) او پـه هغـه ځمکـه کـې ناسـت وي کومـه کـې چـې پيـدا شـوی دی، نـو صحابـه وو وفرمايـل ايـا زيـری ورنـه کـړو پـه دی سره خلکـو تـه نـو رسـول اللـه صلـی اللـه عليـه وسـلم وفرمايـل: بـې شـکه پـه جنـت کـې سـل (۱۰۰) درجـې دي چـې اللـه د هغـو مجاهدينـو لپـاره جـوړې کـړي چـې د اللـه لار کـې جهـاد کـوي او د هـر دوه درجـو تـر مابيـن دومـره فـرق دی لکـه د اسـمان او د ځمکـې، پـس چـې کلـه هـم د اللـه نـه جنـت غـواړئ نـو د فـردوس جنـت ترينـه غـواړئ بـس بـې شـکه دا د جنـت منـځ کـې دی او اعلـی (اوچتـې درجـې والا) جنـت دی (راوي شـک کـوي فرمايـي) زمـا گـمان دی (چـې نبـي صلـی اللـه عليـه وسـلم وفرمايـل: چـې د دې فـردوس جنـت لـه پاسـه د رحمـن ذات عـرش دی او د همـدې (فـردوس جنـت نـه) د نـورو جنتونـو نهرونـه روان شـوي دي، او محمـد بـن فليـح د خپـل پـلار فليـح نـه نقـل کـړی چـې بـره د دې جنـت نـه د رحمـن عـرش دی.

التفكـر والمراقبـة فـی ذكـر التطبيـق والمناسـبة

پـه دې حديـث کـې د امـام بخـاري رحمـه اللـه شـيخ او اسـتاذ هغـه يحيى بن صالح الوحاظي دی، أبو زكرياء يـې کنيـه او الشامي الدمشقي يـې نسـبتي القـاب دي، او الحمصي ورتـه هـم ويـل کيـږي د توثيـق او تعديـل پـه بـاب کـې د ثقـةٌ پـه وصـف موصـوف دی،

چـې لـه ده نـه بخـاري رحمـه اللـه دغـه حديـث پـه سـند سره د ابوهريـره رضـی اللـه عنـه نـه ذکـر کـوي،

د مذکـوره حديـث مناسـبة د بـاب سره صراحـة هغـه پـه مائـة درجـة اعدهـا اللـه للمجاهديـن .....اود مابيـن الدرجتـين ...پـه کلمـو سره دې ځکـه بـاب کـې مطلـق درجـې ذکـر شـوي او پـه حديـث کـې د هغـې اثبـات او تفصيـل ذکـر دی چـې هغـه سـل ۱۰۰ درجـې دي واللـه اعلـم

إغاثة المغيث بذكر شرح الحديث

(مـن امـن باللـه ورسـوله) دلتـه اگـر چـې يـو رسـول ذکـر دی نـو رسـولان نـه دي ذکـر شـوي، وجـه دا ده چـې پـه دې نبـي صحيـح ايـمان لرونکـی پـه ټولـو ايـمان لرونکـی گرځـي لـه دې وجـې نـه چـې دا نبـي د نـورو انبيـاوو د حقانيـت او هغـوی بانـدې د ايـمان راوړلـو دعـوت ورکـوي بيـا دا جملـه چـې (وأقـام الصـلاة وصـام رمضـان). دليـل دی پـه دې چـې صرف ايـمان راوړل فايـده نـه کـوي ترڅـو عمـل ونـه کـړي نـو دليـل شـو پـه دې چـې اعـمال پـه ايـمان کـې داخـل دي، (اوجلـس فـی أرضـه) دا دليـل دی چـې د جهـاد پـه نـه کولـو سره سـړی نـه کافـر کيـږي هغـه بيلـه خـبره ده چـې د خيـر نـه محروميـږي چـې هغـه حصـول د هغـو درجـو دی چـې دلتـه ذکـر شـوي دي.

شـفاء الأمـراض بدفـع الشـبهة و الاعـترا اض

بيـا دلتـه سـوال دا دی چـې حـج او زکات يـې ذکـر نـه کـړه دا ولـې؟ نـو ابـن بطـال خـو دا جـواب کـړی چـې د دې حديـث د ويلـو وخـت کـې حـج او زکات نـه ؤ فـرض شـوي نـو ځکـه يـې نـه دی ذکـر کـړی.

خـو صاحـب د تلويـح پـه دې جـواب رد کـړی کـوم چـې علامـه عينـی نقـل کـړی دی، او هغـه دا دی چـې هغـه فرمايـي دې جـواب د ابـن بطـال کـې نظـر دی او هغه دا چـې زکات د خيـبر نـه مخکـې فـرض شـوی وو، او ابوهريـره رضـی اللـه عنـه اسـلام د خيـبر پـه کال راوړی نـو سـتا جـواب کمـزوری دی، او کرمـاني ويـلي دي چـې کيـدای شي چـې لا دغـه وقـت زکات او حـج د وجـوب پـه درجـه کـې نـه او يـا يـې د تسـامح پـه وجـه نـه وي ذکـر کـړی.

خـو عينـي رحمـه اللـه د کرمـاني پـه جـواب رد کـوي او فرمايـي چـې دا هـم د ابـن بطـال غونـدې جـواب دی، او هغـه دا چـې د جامـع الترمـذي پـه روايـت کـې د معـاذ رضـی اللـه عنـه نـه چـې نقـل دي هغـې کـې حـج هـم ذکـر دی او پـه هغـې کـې د زکات بـاره کـې راوي وايـي (لا أدرى أذكـر الـزكاة أم لا.) يعنـې زه نـه پوهيـږم چـې دلتـه زمـا اسـتاذ زکات ذکـر کـه او کـه نـه عمـدة القـاری / خـو حافـظ ابـن حجـر رحمـه اللـه هـم ترمـذي والا د معـاذ رضـی اللـه عنـه روايـت ذکـر کـوي چـې هغـې کـې حـج ذکـر دی دويـم جـواب ذکـر کـوي او فرمايـي: وأيضا فإن الحديث لم يذكر لبيان الأركان فكان الاقتصار على ما ذكر إن كان محفوظا لأنه هو المتكرر غالبا وأما الزكاة فلا تجب إلا على من له مال.

بشرطه والحج فلا يجب إلا مرة على التراخي

ژبـاړه: او همـدا ډول دا چـې بـې شـکه حديـث دا د ارکانـو د بيـان لپـاره نـه دی ذکـر نـو بـس پـه همـدې څـه چـې ذکـر شـوی پـه دې اکتفـا شـوی ده، (پـه دې شرط) کـه چيرتـه د دې حديـث نقـل محفـوظ وي ځکـه چـې دا غالبـاً مکـرر ذکـر شـوی دی، او بهـر حـال زکات چـې دی نـو دا نـه واجبيـږي مگـر پـه هغـه چـا چـې هغـه پـه دې شرط چـې مـال ولـري، او حـج چـې دی نـو دا نـه واجبيـږي مگـر يـو ځلـی پـه ځنـډ سره ۶/۱۲ -

(جاهد في سبيل الله أو جلس في أرضه التي ولد فيها) شـارحين ليکـي پـه دې جملـه کـې ارام او سـکون ورکـول دي هغـه چـا تـه چـې د جهـاد نـه محـروم دي او ورتـه زيـري دي پـه دې چـې جنـت نـه محـروم نـه شي هغـه درتـه پـه صحيـح ايمـان او پـه اداء د فرائضـو هـم حاصليـږي، اگـر چـې درجـې د مجاهـد نـه د دې مقـام او درجـه ټيټـه او کمـه ده.

نـو چـې کلـه صحابـه کرامـو دا خـبره واوريـده نـو طبعـاً خوشـحاله شـو نـو (فقالـوا) تپـوس کـوي چـې (يا رسول الله، أفلا نبشر الناس؟) ای د اللـه رسـوله خلکـو تـه خـبر ورنـه کـړو .. د ترمـذي پـه روايـت کـې دی چـې معـاذ رضي اللـه عنـه وفرمايـل: چـې مـا ورتـه وفرمايـل چـې ای د اللـه رسـوله (الا أخبرالنـاس؟) او د طـبراني پـه روايـت کـې دي چـې ابـو درداء رضي اللـه عنـه فرمايـي: (فقلنـا) يعنـې مونـږ وويـل ...نـو تطبيق ښـکاره دی چـې ابـو هريـره نـه بغيـر نـورو صحابـه وو تپـوس کـړی دی (کان حقا على الله) د دې پـه شرح کـې علامـه قسـطلاني ليکـي بطريـق الفضـل والکـرم لابطريـق الوجـوب.

ژبـاړه: يعنـې دغـه جنـت تـه د داخلولـو حـق اللـه تفضـلاً او کرامـةً پـه ذمـه اخسـتی نـه چـې دا پـرې واجـب ده. (جاهد في سبيل الله أو جلس في أرضه التي ولد فيها) د دې جملـې پـه شرح کـې د مصابيـح بعضـو شراحـو ويـلي چـې دا تسـويه يعنـې برابـر والـی دی، د شـارع لـه طـرف نـه پـه منـځ د مجاهـد او غيـر مجاهـد کـې نـو حافـظ بـن حجـر پـرې تعقبـا ليکـي.

أن التسوية ليست على عمومها وإنما هي في أصل دخول الجنة لا في تفاوت الدرجات.

ژبـاړه: بـې شـکه تسـويه برابـر والـی پـه عمومـي لحـاظ سره نـه دی بلکـې اصـل کـې دا تسـويه د جنـت د دخـول په بـاره کـې ده نـه پـه حصـول د درجاتـو د هغـی کـې ۶/۱۲

(إن في الجنة مائة درجة.....) دا تعليل دی د منـع او تـرک البشـارة ځکـه مـراد پـه دې سره معلـوم شـو، او هغـه دا چـې تاسـو خلکـو تـه خـبر مـه ورکـوئ ځکـه کـه دوی پـه دې خـبر شي نـو د مفضـول پـه حصـول کـې بـه د أفضـل نـه محـروم شي يعنـې دوی

خـو بـه د فرائضـو پـه عمـلي کولـو سره جنـت تـه داخـل شـی خـو د جهـاد پـه وجـه چـې کـوم عـالي عـالي درجـات او مقامـات دي، د هغـې نـه بـه شـاته پاتـې شـی (و ما بين الدرجتين كما بين السماء والأرض) او د ترمـذي پـه روايـت کـې دی چـې (مَـا بَـيْنَ كُلِّ دَرَجَتَـيْنِ مِائَـةُ عَـامٍ) چـې امـام ترمـذي رحمـه اللـه د هغـې روايـت متعلـق فرمايـي : هَـذَا حَدِيـثٌ حَسَـنٌ صَحِيـحٌ.

او د طـبراني پـه روايـت کـې دي چـې (خمسـمائة عـام) ابـن حجـر فرمايـي کـه چيرتـه دا طريقـه محفـوظ وي نـو بيـا د دې اختـلاف تطبيـق د رفتـار پـورې اړه لـري ۶/۱۳

(فإذا سألتم الله، فاسألوه الفردوس)

د فـردوس پـه معنـا کـې د علـماوو مختلـف أقـوال دي.

(۱) دا هغـه بـاغ تـه وايـي چـې دې کـې هـر قسـم ونـې، گلان او نباتـات موجـود وي.

(۲) منتـزه أهـل الجنـة د جنتيانـو پـارک او تفريـح گاه.

(۳) ربـوة الجنـة جنـت کـې اوچـت ځـای.

(۴) هغـه ځـای چـې پـه هغـې کـې گـڼ أنگـور وي.

(۵) الفردوس الأودية التي تنبت ضروبا من النبات هغـه لښـتی چـې پـه هغـې بانـدې هـر قسـم شـينکي راشـنه شـوي وی الغـرض فـردوس جنـت پـه جنتونـو کـې أعلـی جنـت دی، نـو فلهـذا د دې طلـب او سـوال کـول ضروري دي.

اللهم أرزقناها وأبوينا وأهلنا وأسرتنا وجميع إخواننا المجاهدين الأمراء والمأمورين وعامة المسلمين آمين يارب العالمين.

(فإنه أوسط الجنة) د أوسط نه مراد أفضل دی یعنې (أفضل الجنة) څکه اوسط د أفضل په معنا هم راځي، لکه سورة البقرة ۱۴۳ کې دي چې: (وكذلك جعلناكم أمة وسطا} اية..

(خيارا) یعنې غوره او أفضل (وأعلى الجنة) یعنې عالي او أرفع معنا اوچت حیثیت لري معنوي یا حقیقة په نورو جنتونو بلند دی.

- (أراه - فوقه عرش الرحمن) دلته دا شک د بخاري د شیخ یحی بن صالح نه شوی دی،

(ومنه) ضمیر فردوس جنت ته راجع دی (تفجر أنهار الجنة) یعنې د دې فردوس جنت نه د نورو جنتونو ویالي رواني شوي او جاري شوي دي. او حافظ فرمایي

ووهم من زعم أن الضمير للعرش.

او وهم کړی هغه چا چې ضمیر یې عرش ته راجع کړی دی. [الفتح ۶/۱۳]

(قال محمد بن فليح، عن أبيه: وفوقه عرش الرحمن) په دې تعلیق سره امام بخاري رحمه الله دفع د هغه شک کوي کوم چې د یحیی نه واقع شو په دې لفظ سره چې (أراه فوق ....) څکه نورو راویانو چې دغه حدیث د فلیح نه روایت کړی نو هغوی په جزم سره روایت کړی دی، او دا د بخاري رحمه الله عادت دی چې حتی الوسع کوشش کوي چې حدیث سالم بې عیبه پیش کوي، خو دلته اعتراض دا دی چې بخاري رحمه الله فرمایي قال محمدبن فليح ....او حال دا چې د بخاري رحمه الله د محمد بن فلیح سره لقاء نده شوي نو جواب دا دی چې دغه معلق روایت بخاري رحمه الله په کتاب التوحید د خپل صحیح کې په (باب وكان عرشه على الماء) کې بې له شکه په جزم سره د محمد بن فلیح نه د ابراهیم بن المنذر په واسطې سره موصول ذکر کړی دی نو په دې بناء سره اعتراض ختم شوو والحمد لله رب العالمین.

فوائد الحديث

۱ - حدیث دلیل دی په دې چې جهاد اصل کې فرض کفایي دی خو بعضې صورتونو کې فرض عین ګرځي او هغه بحث مخکې تېر شوی.

۲ - د هرنیک عمل نه مخکې ایمان بالله و بالرسول لازم اوضروري دی.

۳ - چې یو انسان بلکل جهاد نه وي کړی نو هغه هم جنت ته داخلیږي خو چې ایمان یې صحیح او د اسلام په ارکانو عمل کونکی وي.

۴ - چاته په سهولت او أسانتیا بشارت او زیری ورکول صحابه کرامو کې معمول بهاوو.

۵ - کله کله یوه حق او ریښتیني مسأله د یو جایز حکمت له وجهې نه پټولی شي.

۶ - د جنت دغه عالي سل ۱۰۰ درجې صرف د مجاهدینو لپاره تیارې شوي دي.

۷ - جنتونو کې فردوس اعلیٰ او بهترین جنت دی.

۸ - جهاد ډیر اوچت عمل دی څکه نو جهاد کوونکو درجې هم اوچتې دي.

۹ - دلیل دی په دې چې الله سبحانه وتعالیٰ بره دی څکه عرش یې د آسمانونو د پاسه دی.

۱۰ - د الله سبحانه وتعالیٰ نه همېشه په سوال کولو کې بهتر او عالي شی غوښتل پکار دي.

حدیث ۸

رقم الحديث ۲۷۹۰

عَنْ سَمُرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: رَأَيْتُ اللَّيْلَةَ رَجُلَيْنِ أَتَيَانِي، فَصَعِدَا بِي الشَّجَرَةَ، فَأَدْخَلاَنِي دَارًا هِيَ أَحْسَنُ وَأَفْضَلُ، لَمْ أَرَ قَطُّ أَحْسَنَ مِنْهَا قَالاَ: أَمَّا هَذِهِ الدَّارُ فَدَارُ الشُّهَدَاءِ.

ژباړه: د سمره بن جندب رضي الله عنه نه روایت دې هغه فرمایي: چې نبي صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ما نن شپه په خوب کې دوه کسان ولیدل چې ماته راغلل دواړو زه یوې ونې ته وخیجولم پس یو کور ته یې په هغې کې داخل کړم داسې کور چې هغه ډیر ښایسته او ډیر أفضل و ما بلکل د دې په شان ښایسته کور نه دی لیدلی دواړو راته وویل: چې بهر حال دا د شهداوو کور دی

التفکر والمراقبة في ذکر التطبيق والمناسبه

په دې حدیث کې د امام بخاري شیخ او استاذ هغه موسیٰ بن اسمعیل ابو سلمه المنقری دی چې التبوذ کې ورته هم ویل کیږي د توثیق او تعدیل په دنیا کې د (ثقةٌ ثبتٌ) په درجه موصوف دی بخاري رحمه الله د ده نه تر سمره بن جندب پورې دا حدیث په سند سره ذکر کوي یاد دې وی چې دا حدیث بخاري رحمه الله په کتاب الجنائز کې په (باب مايقال في اولاد المشركين) کې مطول ذکر کړی دی د دې نه بغیر یې په البیوع په بدء الخلق په صلاة الليل ا وپه الأدب: ا وپه الصلاة او په أحاديث الأنبياء، عليهم الصلاة والسلام، او په التفسير اوپه التعبير کې هم ذکر کړی دی بیا علماء کرام لیکي لطیفه په دې حدیث کې هغه دا ده چې دا د بخاري رحمه الله د رباعیاتو څخه دي یعنې د بخاري او د رسول الله صلی الله علیه وسلم ترمنځه څلور واسطې دي بیا د ترجمة الباب سره د حدیث مناسبت ښکاره او واضح دی هغه دا چې شهداوو ته د جهاد په وجه دغه شان مرتبې او درجې ورکول کیږي کوم چې په حدیث کې ذکر شوي

إغاثة المغيث بذكرشرح الحديث

(رجلين أتياني ..) دا دواړه ملائکې وې چې یو جبرئیل او بل مکائیل علیهما السلام وو (أحسن وأفضل) دا د أوسط معنیٰ ده کوم چې مخکې حدیث کې ذکر شوی نو دا حدیث د هغې لپاره تفسیر دس نو ګویا چې دلته یې وویل چې د أوسط نه مراد أفضل او أحسن دی قاله الحافظ بن حجر في [الفتح ۶/۱۳]، (أما هذه الدار فدار الشهداء) ددې نه معلومیږي چې د درجونه مراد دغه نعمتونه دي چې مختلف صورتونه لري چې یو د هغې څخه دغه کور دی.

فوائد الحديث

۱ - انبیاء علیهم السلام هم خوبونه ویني چې دلیل دی په بشریت او مخلوق والي د دوی.

۲ - د أنبیاوو خوبونه وحې وي.

۳ - أنبياء په غيبو نه پوهېږي.

۴ - که څوک یوڅیز نه پېژني نو د بل نه پوښتنه کولی شي چې دا څه شی دی؟

۵ - د شهداوو درجې ډېرې أوچتې دي چې له هغې نه ښایسته او غوره درجې نورې نه شته.

رقم الباب ۵

باب الغدوة والروحة في سبيل الله وقاب قوس أحدكم من الجنة

ژباړه: باب ثابت دی په بیان د فضیلة د یو صبایي او د یو بیګایي وتلو په لاره د الله جل جلاله کې او په فضیلة د یو پاتې د لیندۍ (دځای په مقدار) د یوکس ستاسې نه په جنت کې

حصول الأجر والثواب
بتشريح الكلمات ما فى ترجمة الباب

(بـاب) يعنـي(هـذا بـاب) في بيا ن فضـل (الغـدوة في سـبيل اللـه) يعنـي في الجهـاد (وقـاب قـوس احدكـم مـن الجنـة) دا هـم مجـرور لوسـتل کېـږي عطـف دی پـه ماقبـل بانـدې لوسـتل بـه يـې پـه دې ډول وي (وفـى بيـان فضـل قـدر قـوس أحدكـم مـن الجنـة) نـو د ترجمـة البـاب دا معنـیٰ امـام بخـاري رحمـه اللـه وروسـته دوه حديثونـو کـې ثابتـوي او دا جملـه چـې (وقـاب قـوس ...الـخ) دې کـې وقـابِ مجـرور ويـل پـكار دی ځکـه دا عطـف دی پـه (الغـدوة) بانـدې ځکـه امـام بخـاري دې بـاب کـې دا ثابتـول غـواړي چـې جنـت کـې لـږ مـكان او لـږ زمـان د ټولـې دنيـا پـه مقابـل کـې غـوره او بهـتر دی.

مطر الرحمة والسحاب
بذكر مناسبة ترجمة الباب مع الكتاب

دا بـاب د کتـاب الجهـاد د ابوابـو د عـدد او شـمېر پـه اعتبـار سره ۵ نمـبر بـاب دی امـام بخـاري رحمـه اللـه بـه دې کـې درې احاديـث ذکـر کـوي يـو د انـس بـن مالـک بـل د ابوهريـره او دريـم د سـهل بـن سـعد رضـی اللـه عنهـم بيـا مناسـبت د دې بـاب د مـا قبـل سره پـه دې ترتيـب دی چـې مخکـې بـاب کـې د مجاهدينـو درجـې ذکـر شـوي او پـه دې بـاب کـې دا خـبره ذکـر کېـږي چـې دا درجـې او مرتبـې د اللـه جـل جلالـه پـه لاره کـې پـه لـږ وخـت وتلـو کـې هـم حاصلېـږي او د کتـاب الجهـاد سره يـې مناسـبت هغـه هـم ښـكاره دی چـې د اللـه پـه لار کـې د جهـاد او جهـاد کونکـي غـوره والـی او فضيلـت دی واللـه اعلـم

(۹ حديث)

(رقـم الحديـث ۲۷۹۱)- عن أنس بن مالك رضي الله عنه، عن النبي صلى الله عليه وسلم قال:

لغدوة في سبيل الله أو روحة، خير من الدنيا وما فيها

ژبـاړه: د انـس بـن مالـک څخـه روايـت دی هغـه د نبـی صلـی اللـه عليـه وسـلم څخـه روايـت کـوي چـې نبـی صلـی اللـه عليـه وسـلم وفرمايـل خامخـا يـو سـهار (وتـل يـا تيـرول) پـه لاره د اللـه کـې او يـا يـو بيـګا (شـپه) دا غـوره دی د دنيـا او هغـه څـه (مـال او جـمال) چـې پـه هغې(دنيـا) کـې دي

التفكـر والمراقبـة فـی ذكـر التطبيـق والمناسـبة

پـه دې حديـث کـې د بخـاري رحمـه اللـه اسـتاذ او شـيخ هغـه معلّـى بـن اسـد العمـي البـصرى دی چـې د تعديـل او توثيـق پـه بـاب کـې د (ثقةٌثبـتٌ) درجـه لـري لـه ده څخـه دغـه حديـث امـام بخـاري رحمـه اللـه پـه سـند سره د انـس بـن مالـک څخـه نقـل کـوي بيـا مناسـبة د حديـث د ترجمـة البـاب سره لفظـي او معنـوي دواړو طريقـو سره دی. لفظـي پـه (فـی سـبيل اللـه) او.معنـوی پـه (خيـر مـن الدنيـا....) کلمـې سره دی واللـه اعلـم

إغاثة المغيث بذكر شرح الحديث

(لغَـدوةٌ) پـه زبـر د غَيـن سره دا د ورځـې د اول نـه تـر زوالـه پـورې وقـت تـه وايـي خـو علامـه جوهـري فرمايـي: الغدوة ما بين صلاة الغداة وطلوع الشمس، غـدوه د سـحر د مانځـه نـه د لمـر د ختلـو پـورې وقـت تـه وايـي بيـا دغـه (لغـدوة) مبتـدا ده او لام پکـې د تاكيد دی او يـا هـم دا قسـم دی او أصـول د نحـوې دی چـې کلـه مبتـدا نکـره وي نـو ددې تخصيـص بـه پـه صفـت سره کيدېـشي نـو تقديـر دادی (لغـدوة كائنـة في سـبيل اللـه ...) علامـه قسـطلاني فرمايـي چـې د ابـوذر پـه نسـخه کـې چـط د کهشـميني نـه يـې روايـت کـړی هغـې کـې دغـه روايـت (الغـدوة) معرفـه ذکـر شـوی دی (او الروحة)، پـه زبـر د راء سره دا د زوال نـه بعـد د شـپې پـورې وقـت تـه وايـي بيـا دلتـه (الروحـة) عطـف دی پـه (لغـدوة) بانـدې او (أو) دلتـه د شـك لپـاره نـه بلکـې د تقسـيم لپـاره دی (خـير) دا خـبر دې د مبتـدا چـې هغـه لغـدوة ده (خـير مـن الدنيـا ومـا...) د دې جملـې معنـی قسـطلاني او عينـي داسـې کـوي.

ثواب ذلك الزمن القليل في الجنة خير من الدنيـا و ماشـتملت عليـه.

(ژبـاړه: يعنـې ددې لـږې زمانـې اجـر أو ثـواب بـه د دنيـا او څـه چـې پـه هغـې کـې دي د هغـې ټولـو څخـه غـوره ومومـي [قسـطلاني ۵/۳۹] [عمـدة ۱۴/۹۲]

فوائد الحديث

[۱] دليـل دی چـې جهـاد غـوره او أفضـل عمل دی.

[۲] د جنـت لـږ نعمـت هـم د ټولـې دنيـا څخـه غـوره او أفضـل دی.

[۳] ترغيب دی جهاد کولو ته.

[۴] د اللـه پـه لار کـې لـږ وقـت جهـاد کـول هـم د اللـه د رضـا او د جنـت د حصـول سـبب ګرځـي.

اللهم ارزقنا هما يارب

حديث ۱۰

رقم الحديث ۲۷۹۲

، عن أبي هريرة رضي الله عنه، عن النبي صلى الله عليه وسلم قال:

لقاب قوس في الجنة، خير مما تطلع عليه الشمس و تغـرب و قـال لغـدوة او روحـة في سـبيل اللـه خـير مـما تطلـع عليـه الشـمس و تغرب

(ژبـاړه: د ابـو هريـره رضـی اللـه عنـه څخـه روايـت دی هغـه د نبـی صلـی اللـه عليـه وسـلم څخـه نقـل کـوي چـې نبـی کريـم صلـی اللـه عليـه وسـلم وفرمايـل : خامخـا پـاټ د لينـدې پـه جنـت کـې دا غـوره دی د هـر هغـه څـه نـه چـې لمـر پـرې راخيـژي او ډوبيـږي او ويـې فرمايـل خامخـا يـو صبايـي او يـا يـو بيګايـي وتـل پـه لاره د اللـه کـې غـوره دي د هـر هغـه څـه نـه چـې لمـر پـرې راخيـژي او ډوبيـږي.

التفكر والمراقبه فى ذكر التطبيق والمناسبة

پـه دې حديـث کـې د امـام بخـاري رحمـه اللـه شـيخ هغـه ابراهيـم بـن المنـذر الحزامـي الأسـدي دی د صـدوق او حسـن الحديـث وصـف او درجـه لـري ددې نـه يـې پـه سـند سره دغـه حديـث د ابوهريـره رضـی اللـه عنـه څخـه روايـت کـړی دی بيـا مناسـبت او تطبيـق يـې د ترجمـة البـاب او د مخکـې حديـث سره لفظـي أو معنـوي دواړو طريقـو سره پـه فضيلـت او غـوره والـی د اللـه پـه لاره کـې د غـدوی (صبائـی) او روحـی (بيګايـی) پـه وتلـو سره دی واللـه اعلـم

إغاثة المغيث بذكر شرح الحديث

(لقـاب قـوس ...) کـې لام د تاکيـد دی او دا مبتـدا ده

(فـی الجنـة) دا صفـت د (لقـاب قـوس) دی (خيـر) داخـبر دی د مخکـې مبتـداء (مـما تطلـع عليـه الشـمس وتغـرب) مـراد ددې نـه ټولـه دنيـا ده نـو دليـل شـو چـې لمـر پـه ټولـه دنيـا راخيـژي د حديـث ذکـر شـوي فوايـد بعينـه ددې حديـث فوايـد هـم دي لهـذا دوبـاره ذکـر کولـو تـه حاجـت نـه شـته .

حديث ۱۱

رقم الحديث۲۷۹۳

، عن سهل بن سعد رضي الله عنه، عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: الروحة والغدوة في سبيل الله أفضل من الدنيا وما فيها

(ژبـاړه: د سـهل بـن سـعد السـاعدی رضـی اللـه عنـه نـه روايـت دی هغـه د نبـی صلـی اللـه عليـه وسـلم نـه روايـت کـوي (او فرمايـي چـې نبـی صلـی اللـه عليـه وسـلم) وفرمايـل:

يـو بيګايـي او يـا يـو صبايـي وتـل پـه لاره د اللـه کـې داغـوره دي د دنيـا او د هاغـه څـه نـه چـې پـه دنيـا کـې دي

التفكـر والمراقبـه فـی ذكـر التطبيـق والمناسـبة

پـه دې حديـث کـې د امـام بخـاري رحمه اللـه شـيخ او اسـتاذ هغـه قبيصـة بـن عقبـه رحمـه اللـه دی چـې د تعديـل او توثيـق پـه بـاب کـې د(ثقـةٌ) پـه وصـف موصـوف دی چـې لـه ده نـه بخـاري رحمـه اللـه دغـه حديـث پـه سـند سره د سـهل بـن سـعد رضـی اللـه عنـه نـه نقـل کـوي دې بـاب کـې دا دريـم حديـث دې د ترجمـة البـاب او د مخکـې حديـث سره يـې مناسـبت پـه لفظـي او معنـوي طريقـې دواړو سره دی.

شرح الحديث

د دې دواړو حديثونـو د الفاظـو شرح فوائـد د دې بـاب پـه لومـړي حديـث کـې ذکـر شـوي دي دوبـاره ذکـر کـول بـه يـې د تکـرار لـه قبيلـې څخه وي.

حسن المأب فى خلاصة أحاديث الباب

پـه دې بـاب کـې بخـاري رحمـه اللـه درې أحاديـث راوړي.

(۱) حديث د أنس بن مالك

(۲) حديث د أبوهريره

(۳) حديـث د سـهل بـن سـعد: رضـی اللـه عنهـم أجمعيـن دي چـې د ترجمـة البـاب سره جـلي ښـکاره او بديهـي مناسـبتونه لـري، کـوم چـې مخکـې ذکـر شـوي دي، واللـه أعلـم .

علامـه قسـطلانی رحمـه اللـه د دې باب د ټولـو درې واړه احاديثـو خلاصـه حاصـل ذکـر کـوي او فرمايـي: والحاصل من أحاديث هذا الباب أن المراد تسهيل أمر الدنيا وتعظيم أمر الجهاد وأن من حصل له من الجنة قدر سوط يصير كأنه حصل له أعظم من جميع ما في الدنيا فكيف بمن حصل له منها أعلى الدرجات.

ژبـاړه: او حاصـل د دې بـاب د احاديثـو هغـه دا دی چـې مـراد پـه دې سره د دنيايـې أمـورو بـې قـدري او د جهـاد تعظيـم او عـزت ثابتـول دي، او بـل دا چـې هـر چـا چـې جنـت کـې ورتـه د يـو چابـک پـه مقـدار سره ځـای ميلاؤ شي، نـو ګويـا چـې ده تـه ټـول هـر هغه څـه چـې پـه دنيـا کـې دي د هغـې څخـه غـوره او بهـتر ميلاو شـو، نـو د هغـه چا بـه کومـه مرتبـه أو مقـام وي چـې جنـت کـې ورتـه د دې څخـه أعلـی درجـې حاصلـی شي شرح [القسـطلانی ۵/۳۹]

د دې دواړو حديثونـو فوائـد د دې بـاب پـه لومـړي حديـث کـې ذکـر شـوي دي، دوبـاره ذکـر کـول بـه يـې د تکـرار لـه قبيـلي څخـه وي، والحمـد للـه رب العالميـن.

باب الحور العين وصفتهن يحار فيها الطرف شديدة سواد العين شديدة بياض العين وزوجناهم أنكحناهم

ژبـاړه: بـاب ثابـت دې پـه بيـان د سـپينو غټـو سـترګو والا زنانـه وو او د دوی پـه صفاتـو کـې چـې د داسـې صفاتـو والا دي چـې نظرونـه ورتـه پـه حـيرت (حيرانتيـا) پاتـې کيـږي، تـور د سـترګو يـې زيـات تـور او سـپين يـې زيـات سـپين وي او د زوجناهـم معنـا انکحناهـم ده.

حصول الأجر والثواب
بتشريح الكلمات ما فى ترجمة الباب

(بـابٌ) دلتـه هـم د مخکـې غونـدې نکره دی نـو خـبر دی د مبتـدا محـذوفي چـې هغـه (هـذا) إسـم إشـاره ده يعنـي(هـذا بـاب في بيـان الحـور العـين وبيـان

صفتهـن) بيا پـه بعضـې نسـخو د بخاري کـې د {بابٌ} لفظ نشته صرف (الحورالعين) ذکر دي نـو پـه دې بنياد سره بيا (الحـور العين) مرفـوع مبتـدا او خـبر يـې محـذوف دی چـې هغـه (ماذکـر في هـذا الأحاديـث) نـو ټـول عبـارت بـه داسـې وي.

الحـور العـين وصفتهـن ماذکـر في هـذه الأحاديـث وزوجناهـم انکحناهـم.

دې سره يـې اشـاره ده د سـورة الدخـان ۴۵ نمـبر ايـت تـه چـې اللـه سـبحانه وتعالـی فرمايـي: وکذلـك زوجناهـم بحورعـين. نـو دا هـم يـو مناسـبت دی د ترجمـة البـاب سره چـې دغـه حيرانوونکـي حـورې بـه اللـه سـبحانه وتعالـی جنـت کـې مؤمنانـو تـه پـه نـکاح بانـدې ورکـوي، واللـه اعلـم.

فَرحـة القلـوب والـسرور بتذکـرة معنـی الحـور

دې فصـل کـې غـواړو چـې پـه توفيـق د اللـه پـه ترجمـة البـاب کـې د ذکـر شـوي(حـور) د لفـظ معنـا او مفهـوم ذکـر کـړو، حـور پـه ضمـي پيـش د (حا) دا جمـع د حـوراْء ده او پـه حـوراوات سره هـم جمـع کيـږي بيـا دا خـبره هـم يـاد سـاتئ چـې د دې حـور لفـظ اسـتعمال پـه ډيـرو معناګانـو سره راځـي.

(۱) حـور اصـل کـې پـه لغـة کـې(بيـاض) سـپين والي تـه وايـي دا قرطبـي د ابـن عـون نـه نقـل کـړي او عامـه اصطـلاح د علـماوو کـې حـور ديتـه وايـي چـې د سـترګو تـور يـې خالـص تـور او سـپين يـې خالـص سـپين وي او دا معنـا ابـن ابـی الدنيـا رحمـه اللـه د حسـن بـصری رحمـه اللـه نـه هـم نقـل کـړي، وګـوره [صفـة الجنـه رقـم الأثـر ۳۰۳]

او دا هـم ويـل شـوي چـې سـترګې يـې ټولـې تـکي تـورې وي لکـه د غرڅنـۍ او د غـوا پشـان د دې قـول والا بيـا دا هـم وايـي چـې انسـانانو کـې حـور نـه شـته البتـه دې زنانـه وو تـه حور د مشـابهت د وجـې نـه ويـل شـوي د غرڅنـۍ او غـوا سره او دې بـاره کـې دا هـم ويـل شـوي چـې حـور دې تـه وايـي چيـې سـپين د سـترګو يـې د تـور د سـترګو نه ښايسـته تـاو شـوي وي، مشـهور لغـوي علامـه الأصمعـی رحمـه اللـه فرمايـي حـور سـپين والي تـه وايـي څکـه أعرابيـان د ښـارونو زنانـه وو تـه حواريـات وايـي (لبياضهـن وتباعدهـن عـن قشـف الأعرابيـات بنظافتهـن) يعنـې کوچيـان د ښـارونو اوسـيدونکو زنانـه وو تـه حواريـات وايـې، د وجـې د سـپين والي او د لـري والي د هغـوی د هغـو خـيرو نـه او د هغـه پـاك والي پـه وجـه چـې د کوچيانـو د زنانـه وو نـه وي.

(۲)دغـه مـاده پـه نـصرت او خيرخواهـي کولـو کـې هـم اسـتعمال شـوي لکـه د صحيـح البخـاري روايـت کـې دي کـوم چـې د جابـر بـن عبداللـه نـه نقـل دي چـې نبـي صـلي اللـه عليـه وسـلم وفرمايـل: إِنَّ لِـكُلِّ نَبِـيٍّ حَوَارِيًّـا وَحَـوَارِيَّ الزُّبَـيْرُ ” ، قَـالَ سُـفْيَانُ : الْحَـوَارِيُّ : النَّـاصِرُ .

دغـه ډول قـران کـې هـم دغـه معنـا اسـتعمال شـوي .قـال الحواريـون نحـن انصاراللـه ....الآيـة

(۳)دغـه ډول دا مـاده د رجـوع او واپـسي پـه ځـای هـم اسـتعمال شـوي ده.

قرطبـی د ابـن عبـاس رضـی اللـه عنـه نـه نقـل کـړی چـې هغـه وفرمايـل: ما کنت أدري: ما يحور؟ حتى سمعت أعرابية تدعو بنية لها: حوري، أي ارجعي إلي.

ژبـاړه: وايـي ماتـه علـم نـه وو پـه دې چـې د (يحـور) لفـظ څـه معنـا ده تـر دې چـې د يـو اعـرابي نـه مـې واوريـدل چـې هغـه خپلـې لـور تـه اواز کولـو چـې [حُـوری] يعنـې راواپـس شـه مـا تـه، نـو قرطبـي رحمـه اللـه فرمايـي: فالحور في كلام العرب الرجوع.

ژبـاړه: نـو حـور د عربـو پـه کلام کـې رجـوع تـه ويلـی شي او بيـا فرمايـي ومنه قوله عليه السلام:“ اللهم إني أعوذ بك من الحور بعد الكور“ يعنې: من الرجوع إلى النقصان ....ژبـاړه: او لـه همـدې څخـه قـول د نبـي صلـی اللـه عليـه وسـلم دې چـې فرمايـي: ای اللـه زه پـه تـاه پنـاه نيسـم د حـور نـه وروسـته لـه کـور نـه يعنـې وروسـته د رجـوع او واپـسي کولـو نـه نقصـان تـه. [تفسـير القرطبـی ۱۹/۲۷۳]

(۴) دغـه ډول د حـور دا مـاده د نقصـان او هلاکـت پـه معنـې کـې هـم اسـتعمال شـوي لکـه د عربـو مشـهور متـل دی(حـور فـی محـارة) يعنـې پـه نقصـان کـې نقصـان يـا دا چـې (إنـه في حـور وبـور) يعنـې دغـه کـس پـه نقصـان او هلاکـت کـې دی.

(۵) دا د حـور مـاده د حيـرت او حيرانتيـا پـه معنـا هـم اسـتعمال شـوي لکـه څنګـه چـې امـام بخـاري رحمـه اللـه پـه ترجمـة البـاب کـې دغـه ذکـر کـړي ده او دا معنـا د امـام مجاهـد رحمـه اللـه نـه هـم نقـل ده چـې هغـه فرمايـي: الحور يحار فيها الطرف من رقة الحلل وصفاء اللون.

او هغه خلافت چې ټوله نړۍ په قراني نظام منوره کړي، او هر طرف امن، عدل او انصاف قایم کړي، او د موجوده دجالي او شیطاني لښکرو ټول شوم اهداف له خاورو سره خاورې کړي، ان شاءالله.

ته به وګورې ای سایله چې د حق په لارویانو د کفر بچې له هر لورې را تاو دي، او هجوم یې پرې راوړی تر څو دا مخلص مؤمنان د ځمکې واک تر لاسه نکړي، نو دوی به خپل ناکام کوښښونه کوي خو رب یې اخره کې نا مراده او ذلیله کوي، او ټوله ځمکه به خپل خاصو بندګانو ته ورکړي، ان شاءالله.

قال الله تعالی: يُرِيدُونَ لِيُطْفِـُٔوا نُورَ اللَّهِ بِأَفْوَٰهِهِمْ وَاللَّهُ مُتِمُّ نُورِهِ وَلَوْ كَرِهَ الْكَٰفِرُونَ. [سُورَةُ الصَّف : 8]

ژباړه: دوی د خولو په پوکیو سره د الله د رڼا مړه کول غواړي. او د الله فیصله دا ده چې هغه خپله رڼا بشپړه خوره کړي که د کافرانو دا هر څومره بده ایسي هم.

کفار او مرتدین به راجمعه شي او ټلوالې به جوړې کړي.

پیسې به مصرف کړي او ټول امکانات به په کار واچوي، د دې لپاره چې د الله عزوجل د لارې د مجاهدینو مخه ډب کړي، تر دې چې دا جنګ د همدوی کفارو په هلاکت را وڅرخي او بیا به په دوی هیڅ رحم ونشي، او د خپلو ټول جنایاتو درنه کَفاره به آداء کړي، ان شاءالله.

د مسلمة امت هغه مېړني لا ژوندي دي کوم چې هر وخت له رب څخه هغه بهتر او افضل شې غواړي، چې هغه سپیڅلې شهادت دی.

لکه چې یو حدیث کې دغه شان بیان شوی:

بزار له سعد بن وقاص رضی الله عنه څخه روایت کوي چې یو سړی

لمونځ ته راغې او نبي کريم صلی الله عليه وسلم مونږ ته د لمانځه امامت کاؤ.

کله چې صف ته نزدې شو نو ويې ويل: ای الله! ماته هغه بهتر او افضل شې راکړه چې خپلو صالحو بندګانو ته يې ورکوې.

کله چې نبي عليه السلام له لمانځه نه خلاص شو نو ويې فرمايل: اوس لږ وړاندې چا خبري وکړي؟

هغه ووېل يا رسول الله ما، رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: نو ستا اس به زخمي کيږي او ته به د الله په لاره کې شهيد کيږي.

کشف الاستار ۲/۲۸۱ ورجاله وثقات.

هو همدا د رب په مينه مست او ريښتني رجال به يو ځل بيا نړۍ په الهي نظام منوره کړي، بعون الله.

خو افسوس د هغه چا په حال چې له دين نه خبر نه دي، او دا مخلص مجاهدين په غلطو نومونو يادوي، صد افسوس د دوی په حال چې مجاهدين يې د فلاح او کاميابۍ لور ته را بولي خو دوی د غيرو خلکو په خولو دوی خوارج او د نورو پروژه بولي.

د کايناتو خالقه!

ته دې خلکو ته هدايت وکړه، څوک چې په غلطه لار درومي، يقيناً ته چې چاته هدايت وکړي بيا يې څوک نشي ګمراه کولی، او څوک چې ګمراه کړي بيا ورته بل څوک هدايت نشي کولی، اللهم امين.

ای خلکو!

د الله په خاطر خپل زړونه مو د دين له نوره ډک کړئ، چې په موجوده کفري دسيسو پوهه شئ، بس کړئ، نور د بې دينو خلکو تقليد ځکه دوی مو جهنم په لور بيايي.

د خپل نړيوال اسلامي خلافت غيږ ته پناه راوړئ تر څو د دجال له لښکرو سره جهادونه وکړئ او د دوی له شره بچ شئ، ان شاءالله.

دين ته مخه کړئ، له عقل مو کار واخلئ او په هسې چټې افواهاتو د الله عزوجل د لارې مجاهدين غلط مه يادوئ.

همدا مجاهدين د محمد مهدي عليه السلام هغه لښکر دی چې د دجال لښکرو ته به ماتې ورکوي او ځمکه به د دوی له شره پاکه وي، ان شاءالله.

وما علينا الا البلاغ المبين.

د خراسان پر افق درې ځليدونکي ستوري

الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على رسول الله وعلى آله وصحبه ومن والاه، أما بعد:

د کوچني اختر څو ورځې تيرې وې، چې الله عزوجل رابانديې ستره پيرزوينه وکړه، او د اسلامي دولت تمکين ته يې د هجرت توفيق راکړ، په يو سخته لار د کوټ سيمې ته ورسيدو، هرې خوا ته ډلې، ډلې ګلالي مجاهدينو غوړې څنې اړولې ، راړولې، او لر ،بر د دښمن په لټه کې ګرځېدل، مخلص (سپرغی) به د دښمن په تعقيب کې په يو لور روان و، شاهين به بلې خوا په مرتدينو غزا جوړه کړې وه، تور ابو بکر، سهيل او ذو الفقار به هم د ملګرو په شمول د کوټ په کليو ګرځيدل، راګرځيدل، اورکزي مجاهدين هم په موټر سايکلو ښکته پورته ګرځيدل، او د مجاهدينو له موټرونو به هر چرته په سلګونو ماشومان راتاو وو، ، د مجاهدينو سره يې مينه تر دې حده وه چې د دوی له لاسونو او سرونو به يې تور عقابي بيرغ په زور کش کاوه، چې کاکا دا مونږ ته راکړه، تاسې ځان ته نور جوړ کړئ. د کوټ په اکثرو مساجدو کې د اسلامي خلافت ديوان الدعوة د علماؤ لخوا د عامه خلکو پوهاوي په پار د عقيدې، ضروري احکامو او مهمو واجباتو درسونو لړۍ روانه وه، مدارس او مکاتب آباد و، خدمت عامه او د طب بخشونه هم خورا فعال و، قضاء، حسبې او د امنيت مراکز هم ودان و، د مجاهدينو د پيرې، ګزمې او خط ساتلو نظم هم فوق العاده و، د خلافت مجاهدينو خپل رعيت سره بې کچه مينه کوله، اسلامي شريعت قايم و، هرې خوا ته امن، داد، سکون، ورورګلوي، مينه او الفت و. هر عام او خاص په خوله مسکا او خوشحالي وه.

يوه ورځ د ملګرو سره د ښوي اوني يخ سيوري ته ناست و، چې ګورو مولوي صيب مسلم کنړي ځان سره يو بل د سپينو جامو عالم هم زمونږ مجلس ته راوست، دا څيره زما لپاره نآشنا وه، کله مې نه وه ليدلې، د تعارف پرمهال مسلم مولوي صيب وويل چې دا شيخ ضياء الحق کنړی نوميږي، ضروري تعارف يې وکړ، بيا يې وويل چې شيخ صيب د خراسان والي حافظ سعيد خان سره بيعت لپاره راغلی و او اوس خپل اهل راوستلو په پار لاندې کېوزي، ترڅو د هجرت ستره فريضه ادا کړي.

چې بيا دغه عالم د شيخ ابو عمر په نوم وځليد چې د خراسان غږ مجلې تېرې ګڼه کې مو دده سيرت ولوست، څو ورځې چې تيرې شوې، مونږ همدې کوټ کې وو، چې سعد أمارتي د يو څو ملګرو په ملتيا هجرت راوکړ، او هغه هم زمونږ ميلمه شو، هغه راسره دوه ،درې خوږې ورځې تيرې کړې، کوټ يې ډير خوښ شو، د کوټ خوږ شاوخوا سيمې يې وکتلې، د لا پرمختګ لپاره مجاهدينو سره يې خپلې تجربې هم شريکې کړې، او بله ورځ مامند ته وخوځيد، مونږ هم د سعد أمارتي په ملتيا مامند ته پورته شو، دا نو مامند ته زمونږ لمړی سفر و. هلته مو مجاهدينو سره ليدنې کتنې وکړې، او د سينزلې په يو مرکز کې د تاسيسي تربيتي دورې لپاره منتظر شو، يوه ورځ ددغه مرکز په برنډه کې ناست وم، چې مخامخ لويې دروازې څخه يو څو ملګري رادننه شول، چې تر ټولو مخکې يې دنګ ځوان و، په تن يې تورو جامو او په سر يې تور پټکي نوراني سپين مخ ته لا ښکلا او ړنا وربښلې وه، زما سترګې هم دغه ځوان کې خښې شوې او هڅه مې کوله چې دا څوک دی ؟

دغه وخت نوموړی زما په طرف ډير رانږدې شوی و، نو ناڅاپه مې متحير ذهن ادراک شروع کړ، چې دا خو شيخ جلال الدين دی، هغه څيره چې زما لپاره نهايت آشنا وه، د يو بدن دوه غړي و ، خو په دغه لباس کې مې ونه پيژانده، ځکه چې په ټول عمر مې پدې لباس نه و کتلی، د ورکوټوالي راهيسې مې شيخ صيب په سپينو جامو، سپينو او سرو دسمالونو او تور پټکي پرته په نورو کاليو کې نه و ليدلی!

خو سمدستي مې ورمنډه کړه، او ورغاړې وتم، هغه هم په غيږ کې جوخت ونيولم، دا نو هغه حالت و چې له بيان څخه بهر و. بيا مو شيخ صيب سره راغليو نورو ميلمنو سره سترې مه شي وکړه، شيخ طاهر باجوړي (سلمان خراساني) او داسې نور ملګري ورسره وو. بيخي مو په شيخ صيب سترګې نه مريدې.

دلته مو تر مازيګره خوږ مجلس وکړ، مازيګر شيخ صيب ويل چې فلاني مرکز کې مو بيان دی، مونږ هم ورسره لاړو، ډيری مجاهدين راټول ول، شيخ صيب ماښام لمونځ ورکړ، په سجده کې يې زيات وژړل، رب العالمين ته يې په مونځ کې عاجزي وکړه او بيا يې زيات مؤثر او زړه راښکونکی بيان وکړ، د ملګرو سترګې لمدې شوې او ايمانونه يې تازه شول.

د بيان څخه وروسته شيخ صيب سره د ارهابي مولوي مرکز په لور روان شو، چې کله مرکز ته ورننوتلو ګورو چې د خراسان والي حافظ سعيد خان ناست دی، څنګ کې ورسره سعد أمارتي هم ناست و ، مخامخ کټ کې ورسره سيف الاسلام مولوي صيب ناست و، ماښام تياره وه، نو حافظ صيب متوجه شو، چې دا راتلونکی کس څوک دی ؟

چې کله شيخ صيب ورنږدې شو، نو حافظ صيب له خندا شين شو او ورته يې وويل: شيخ صيب زه خو حيران شوم چې دا کس څوک دی، ځکه چې بيخي لباس دې بدل کړی دی، تختو کې چې مونږ تاسې څو شپې وکړې نو ستاسي لباس هماغه د ښار سپينې جامې او سپين دسمال و، شيخ صيب هم په خندا شو او ورته يې وويل چې دا جامې راته محمدي قاري صيب رابدلې کړې ، چې شيخ صيب دې آسمان څکو غرونو او شنو درو کې دا تور کالي واغونده او دا خر څرمنې بوټان په پښو کړه . تر دغه دمه شيخ صيب او سعد امارتي هم ستړې مه شي نه وه کړې ، نو يو بل سره يې ښه کلک روغبړ وکړ او سيف الاسلام مولوي صيب خو هسې هم د شيخ صيب ګاونډي و، بيا دلته مجلس وشو،دماخستن د لمانځه امامت حافظ صيب وکړ، زمونږ هم حافظ صيب سره دا لمړی ملاقات و، شيخ صيب ورته زمونږ تعارف هم وکړ، بيا مو ورسره بيعت تازه کړ. دلته د پيښې سيمې ځينو زيارتونو او غير شرعي قبرونو په اړه لازمې مشورې وشوې، او بيا ناوخته سره ټول خواره شول تقبلهم الله.

شيخ جلال الدين د سهار هغه ځليدونکی ستوری و ، چې د خراسان پر افق د لږ وخت لپاره راوخوت ،د شپې په تيارو کې يې ډيرو لار ورکو ته د سهار رڼا ورکړه ، د يو روڼ سهار د راتلو زيری يې په لر بر خواره کړل او بيا د سبا په راختلو د خراسان له لمن څخه ولويد ، خو دده په پل روانه قافله له همغه وخته له سختو ګرځونو او پيچومو تيريږي او د خپل منزل په لور لار لنډوي ، شيخ جلال الدين څوک و او څنګه يې د اسلامي دولت تمکين ته هجرت وکړ او څنګه سره له نورو دوه ورونو يې ګلورينې ځوانی د الله عزوجل د نظام د قيام په لاره کې قربان کړې راځئ په دې ليکنه کې يې راسره ولولئ .

د شيخ صيب نوم او نسب:

د شيخ صيب خپل نوم ابو عبد الله جلال الدين و، پلار نوم يې حکيم سيد او نيکه يې نور علي خان بن معتبر خان بن شاه خان بن موسی خان و، چې اصلاً د کنړ ولايت د مانوګي والسوالۍ د ننګلام د کلي اوسيدونکي و.

د شيخ صيب کورنۍ پيژندنه:

د شيخ صيب والد او نيکه د شوروي خلاف مختلفو محاذونو کې برخه اخيستې وه، کله چې د دوی کلی ننګلام د شوروي درنده ګانو لخوا په بشپړ ډول وسوځېد نو د نورو خلکو په څېر دوی هم کلي پريښودو ته اړ شول او د بمبارونو په سيورو کې د هجرت په پار ووځې ، ورځې د ولږو او تندو په حالت کې د

غرونو اوږده مزلونه ترسره کړل، تر دې چې باجوړ ته ورسېدل، هلته يې څو ورځې تيرې کړې او بيا د صوابي ولسوالۍ تربيلي په نوم سيمه کې يې سکونت اختيار کړ، چې دوه کاله پس ورته الله عزوجل مشر ځوی ورکړ، او د جهاد د ډېرې مينې له امله يې پرې د مجاهد نوم کيښود، چې وروسته د شيخ مجاهد محمدي په نوم وځليد، بيا شيخ صيب جلال الدين يې ځلورم ځوی و، چې د ولادت نيټه يې د ۱۴۱۲ هـ ق کال سره سمون خوري.

د شيخ صيب علمي ژوند:

شيخ صيب ابتدايي زده کړې د خپل والد صيب او د کلي ملايانو او استاذانو څخه وکړې، خو لږه موده وروسته د شيخ صيب والد د غريبۍ له امله بل ولايت ته مسافرۍ ته اړ شو او هماغه وه چې کور يې هم همغه ځای ته يوړ، شيخ صيب دغه ځای کې په ۱۱ مياشتو کې د قرآن کريم حفظ وکړ، الله عزوجل ورته نآشنا قوي حافظه ورکړې وه. او ډېر خوږ غږ يې درلود، د حفظ څخه وروسته د فيصل آباد مشهورې مدرسې [ستيانه بنګله] څخه يې علم حاصلول پيل کړل، چې په ټوله مدرسه کې يې لمړی نمره وګټله او سعودي څخه راغليو ميلمنو په لاس ورته انعامات ورکړل شول.

بيا شيخ صيب نورو زده کړو لپاره پيښور ته راغی، او دلته يې د پيښور يوې مشهورې مدرسې څخه د مختلفو فنونو په شمول د احاديثو او تفسير علم ترلاسه کړ، او د لته يې هم د فراغت په وخت لمړی مقام وګاټه او ممتاز سند يې ترلاسه کړ.

د فراغت سره سم د پيښور په يوې مشهورې مدرسه کې مدرس مقرر شو، چې د احاديثو او فنونو اکثر کتابونه يې تدريس کړل، لکه صحيح البخاري، صحيح مسلم، سنن نسائي، مشکاة، بلوغ المرام، رياض الصالحين، نخبة الفکر، القصيدة النونية، الفية ابن مالک، الکافيه، أصول الشاشي، المقامات الحريرية، هداية النحو، علم الصيغه او داسې نور.

د قرآن کريم په تفسير کې هم ورته

رب العالمين نآشنا ملکه ورکړې وه، او هر کال شعبان او رمضان کې به يې تفسير دوره کوله، چې سلګونو شاګردان به ورته حاضريدل. ددې سره ،سره شيخ صيب په يو مشهور جامع مسجد کې خطابت هم درلود، چې خطبې ته به يې د لرې پرتو سيمو څخه خلک راتلل.

د علم الدرايه او علم الروايه سربيره شيخ صيب ته الله تعالی د حق په دفاع کې باطل پرستو سره د مناظرو نآشنا کمال ورنصيب کړی و ،د فرق ضاله په رد کې يې تخصص درلود ددې هرڅه سره ، سره د عربي ژبې پياوړی شاعر هم و، چې ځينې قصائد او آثار يې ديني مجلو کې چاپ شوي هم دي.

د شيخ صيب علمي آثار:

د شيخ صيب د احاديثو او فنونو غريزي سلسلې مشهورې دي، چې د علم طالبان پرې خپله تنده ماتوي ، د شيخ صيب سفرونه، درسونه او مصروفيات زيات و، نو ځکه ليکلي آثار يې کم دي، يو بل عمده علت يې دا دی چې شيخ صيب ډېر کم عمرۍ کې د شهادت په مرتبه فائز شو (ان شاء الله) نو ځکه يې هم ليکلي آثار کم دي، په ۲۰۱۰ ميلادي کال کې يې فراغت وشو او اووه کاله پس شهيد شو خو بيا هم ځينې رسائل يې دا دي:

۱.الرسالة المنصورة في اثبات الخلافة الموعودة.

دا په عربي ژبه کې ده، خو متاسفانه چې لا هم غير مطبوع پاتې ده.

۲.أسباب النصرة والهزيمة.

پښتو ژبه کې يې د ځينو مجاهدينو په غوښتنه دا رساله ليکلې وه.

۳.رحمة الباري، پښتو کې مطبوع ده.

۴.الفرقان في بيان أن الکتاب والسنة وافيان. پښتو کې مطبوع ده.

۵.الاستدراک المتين على الفتح المبين.

دا اصول حديثو کې د يو عالم په کتاب استدراک دی او عربي ژبه کې مخطوطه ده.

۶.الانتصار على ما تضمنه نبديد الکوثري من العثار.

دا هم په عربي ژبه کې علمي رساله ده، او لا تر اوسه هم مخطوطه ده.

او داسې نور د مسائلو تحقيقات يې

وخت په وخت نشر شوي دي.

د بياناتو، مناظرو او محاضرو په پايله کې يې ډېرى خلکو ته الله عزوجل د توحيد عقيده ورنصيب کړې ده.

شيخ صيب ذاتي صفات:

د شيخ صيب د ژوند دا باب هم ډېر پراخه دی، خو لنډ به داسې ووايو چې ډېر د ساده خوي مالک، حليم، خوش مزاجه او د نرم زړه خاوند و، هيڅکله يې له چا څخه شخصي انتقام نه دی اخيستی، تواضع، انابت، کتاب سنت بانديې سخت غيرت کونکی او د مسلمانانو په درد خفه کيدونکی انسان و او رب العالمين ورته دا صفت ورکړی و ، چې ډېر سست خلک به يې هم په حرکت راوستل او د اسلام په نفع به يې يو فعاليت په لور سوق کول، انسان ته به يې حوصله ورکوله، د ملګرو او شاګردانو په پرمختګ به بې حده خوشحالېده.

مُربيٌ انسان و، په خپلو محنتونو يې زيات خلک روزلي و، دغه رنګ ټولو اقرباؤ سره به يې خپلولي پالله او د نرۍ څخه سترګې پټولو پورې ترې مومنان او موحدين هيڅوک خفه نه و، او د الله دښمنان ترې خوشحاله نه و، حق ګوئي يې لوی صفت و، چې په هر شرک او مشرک، ردت او مرتد، بدعت او مبتدع يې رد کړی دی، حق يې بيان کړی دی، ولو که پدې لار کې ګواښل شوی و، ډارول شوی و، ځينو صوفيانو او مشرکانو لخوا وهل شوی هم و، حتی د مرګ پلانونه يې جوړ شوي وو، خو په الله عزوجل يې کلک توکل و او د حق په باب يې د بندګانو لحاظ نه پيژانده.

د شرک الحاکمية مسئله يې ښه په ډاګه بيانه کړې وه، د روافضو په خلاف يې د پيښور په مشهورو جامعاتو کې محاضرات وړاندې کړي و، شرکي نظامونو ته وټونو ورکولو په پار يې قناعت بخش درسونه کول او د وټونو په وخت به يې عوامو او خواصو ته ددې فتنې څخه د ځان ژغورلو کلکه توصيه کوله، د جهاد فرضيت فتوه يې هم ښکاره ورکوله، د ګستاخ رسول په اړه د سر پرې کولو حکم يې د منبر په سر بيانوو، لنډه دا چې د هر باطل په وړاندې يې خپل منبر څخه غږ پورته کړی و.

د شيخ صيب جهادي ژوند:

زده کړو پرمهال شيخ صيب د جهاد سره رغبت پيدا شو، او د فرصت پيدا کيدو په صورت کې به يې جهاد ته مخه کوله، افغانستان او پاکستان دواړو کې يې تر يو حده

جهاد کړي، د کنړ مختلفو سیمو لکه څوکۍ، دیوګل، وټپور، ځانګار وغیره سیمو کې د مخلصو مجاهدینو سره یو ځای په سنګرونو کې له خلافت له ظهور څخه مخکې پاتې شوی چې د ډیرې جګړو په لړ کې یې د امریکایي درنده ګانو په بیزونو د مجاهدینو په ترسره شویو عملیاتو کې یې فعاله ونډه اخیستې وه، د پاکستان مرتد حکومت پرضد جنګیدونکي مجاهدین یې هم منظم او منسجم کول، په شرعي اړخ کې یې د هغوئ همکاري کوله او د هغوئ د مفتي حیثیت یې درلود، د القاعدې د هغه وخت ځینې مهاجر مفتیان یې شاګردان ول، د هغوی یې هم علمي او عملي روزنه کوله.

د روس او تونس مهاجرو مجاهدینو سره یې کلکې اړیکې وې، او پاکستان کې د مجاهدینو اسلحې وغیره به یې هم ساتلې، دغه رنګ خپله یې هم ښاري تربیت تر یو حده کړې و خو د مشکلاتو له امله یې لا پای ته نه و رسولې.

لکه څنګه چې پیښور کې شیخ صیب یو مطرح علمي او جهادي شخصیت و، ځکه استخباراتو پرې ډول هڅې وکړې، چې په خپله نفع یې استعمال کړي. په دې لړ کې یې شیخ صیب ته مختلف نوعه وړاندیزونه وکړل، د مال، دولت، چوکۍ، منصب، نکاحونو، موټرونو، کورونو، الغرض زیات مادیات یې ورته مخې ته کړل خو الله عزوجل په خپل فضل له دغه دسیسو او توطیو څخه وژغوره، ډیرو جاهلانو او متجاهلانو ورته د استخباراتي شبکو په لمسون د خپل تنظیم، ګوند او ډلې جوړولو مشورې هم ورکړې خو شیخ صیب ورته تل منفي ځواب وایه.

د اسلامي خلافت سره بیعت:

کله چې د خراسان په ځمکه امارت د اسلام ماتونکو کړنو په ډنډ ورګډ شو، او تر سره په کې ور ډوب شو، نو شیخ صیب هم له طالبانو څخه ناهیلی شو او د عراق او شام مثبت بدلونونو ته زیات هیله مند و، خو دا یې په ګمان کې هم نه و چې د اسلامي دولت وړانګې به د خراسان او هند تر سیمو هم راورسیږي. نو ځکه یې عراق او شام ته د هجرت په اړه خپله هم تصمیم درلود او د راز ملګرو ته یې هم د هجرت لپاره د چمتوالي توصیه کوله خو د رب لوئي احسان و، چې خراسان یې هم ددغه نعمت څخه برخمن کړ، چې د الله ددین د نفاذ په پار جنګیدونکو مجاهدینو ته یې سپیڅلی ډګر او مبارک سنګر پرانیست، او د شیخ

صیب مزل هم رالنډ شو چې خوشحالي یې له حده زیاته وه او د رب حمدونه یې ادا کول.

ابتدآء د شیخ صیب تعلق او رابطه د خراسان ولایت نائب عبد الرؤوف خادم تقبله الله دملګرو سره وه، او د هغوئ په غوښتنه یې ورته یوه ارزښتناکه رساله هم ولیږله چې په قیمتي نصائحو او مهمو لارښودنو مشتمله وه.

چې لږه موده وروسته ورته د خراسان والي حافظ سعید خان غږیز پیغام راغی، شیخ صیب ته یې دعوت ورکړی و، چې عراق او شام ته د هجرت اراده ترک کړي، او خراسان ته هجرت وکړي، ځکه دلته ورته ضرورت زیات دی، نو هماغه وه چې شیخ صیب هم تیاری شروع کړ او دا هغه وخت و چې د پاکستان استخباراتو هم نور زړه راتنګ شوی و او یوه شپه د شیخ صیب کور ته راغلي و، خو الله عزوجل ترې وساته او په خفیه ترتیب سره افغانستان ته راغی، دلته سېمه ایزو علماؤ او ولس یې تود هرکلی وکړ، او په ویاړ یې ځای، ځای جلسې منعقد شوې، په مختلفو رادیوګانو کې یې برنامې مقرر شوې، د تدریس لپاره ورته د ننګرهار او کنړ مشهورو مدارسو وړاندیزونه وکړل، خو د شیخ صیب اراده بدله وه، او د لږ ځنډ څخه وروسته یې د لوی الله په مرسته هجرت وکړ.

د اسلامي خلافت په تمکین کې ژوند:

کله چې شیخ صیب د دار الاسلام پیښې سیمې ته راورسید، الله عزوجل ته یې د حمد سجده وکړه، او سخت د خوشحالۍ احساس یې کاوه، شیخ عبد الحسیب یې لا له مخه هرکلي ته راغلی و، ابتداء د شیخ صیب اراده دا وه چې بیعت کوم بیا بیرته لاندې کېوزم او د اهل سره به هجرت وکړم، خو په لار کې یې د هجرت اراده وکړه، شیخ عبد الحسیب تقبله الله ویل چې په لار کې مې دعاګانې کولې چې ربه ته د شیخ صیب زړه هجرت ته مایله کړه، خو کله چې ملګرو یې خبر کړ چې د هجرت په نیت راغلی، نو سخت خوشحاله شو د شیخ عبد الحسیب په ملتیا تختو ته د حافظ سعید خان خواته ورغلل، حافظ صیب یې هم تود هرکلی وکړ، او څلور شپې یې ورسره یوځای وکړې، په تختو کې شیخ صیب د خلافت په تایید د (الخلافة الموعودة) په نوم ۵۰ دقیقې لړی ویډیویی بیان وکړ، او برملا یې د پاکستان استخباراتو، افغانستان حکومت او د دوئ بادارانو امریکایانو په خلاف مسلمانان جهاد ته راوبلل، د جهاد د تجدید غږ یې پورته کړ، چې له مرکز څخه رسمي نشر شو. بیا حافظ صیب ورته وویل چې د تمکین په ټولو سیمو یوه دوره ووهه، چې ټول مجاهدین تشویق شي، هماغه وو، چې شیخ صیب خپل سفر پیل کړ، د عد الخیلو څخه رانیولی، پیښې، مامند، کوټ، ګورګورۍ پورې لاړ. بیا یې باندر او نازیانو ته اراده وه ،خو ژوند ورسره وفا ونه کړه.

کله چې شیخ صیب له تختو څخه راکوز شو نو د مجاهدینو هر مرکز ته یې سر ورښکاره کاوه او مشرانو ملګرو سره یې ملاقاتونه کول، چې ددغه جملې څخه یو شیخ منصور و، چې واقعه یې ډیره جالبه ده، شیخ منصور چې په شدت سره یې د شیخ جلال الدین انتظار کاوه، کله چې شیخ صیب د هغه کور سورکمر مامند ته ورغی، نو شیخ منصور ورته ښه میلمستیا وکړه. په مجلس کې شیخ منصور ته شیخ جلال الدین وویل چې شیخ صیب ما پیژنې ؟ هغه ورته وویل: ولې دې نه پیژنم، ما خو ستا زیاتې مناظرې کتلي دي، خپل د سعودي ژوند پرمهال مې ستا بیانات او درسونه تعقیب کړي دي، الحمد لله یو حق پرسته شیخ یې! شیخ جلال الدین ورته په خندا شو، وایي شیخ صیب ودې نه پیژندلم ! هغه هم حیران شو، چې د شیخ هدف څه دی ؟

شیخ جلال الدین ورته کیسه شروع کړه، چې شیخ صیب ستا یاد شي چې ته د پیښور فلانۍ مشهورې مدرسې ته روان وې، او له تا څخه یو بل کس هم ددغه مدرسې ادرس وغوښت، تا له ځان سره کړ، او بیا پدغه مدرسه کې داخلې بندې شوې وې، هغه کس خفه او پریشانه ناست و، بیا ورته تا داخله واخیسته. او د سعودي څخه راګرځېدو پرمهال به وخت نا وخت مدرسې ته راتللی او د هغه هلک پوښتنه به دې کوله، هغه ماشوم دې یادیږي ؟

اوس د شیخ منصور ذهن کار وکړ، وایي هو والله ما خو دغه مدرسه کې جلال الدین په نوم ماشوم داخل کړی و، اوس هم راته ښه یاد دي، خو زما څه فکر و چې هغه جلال الدین به ته یې، څه ته هماغه جلال الدین یې ؟ شیخ صیب ورته ویل هو هغه زه وم چې د دغه مدرسې داخلې وخت تیر و، ماته یې داخله نه راکوله ،خو تا زما سفارش وکړ، او ستا د لحاظه یې ماته داخله راکړه، دغه وخت نو شیخ منصور باندې خوشحالۍ له امله یو نآشنا کیفیت طاري شو، چې د لیکلو څخه بهر دی.. او زیات حمدونه یې ادا کړل چې زما د لاس نیالګي نن میوه نیولې ده او له سیوري یې ډیری عالمونه استفاده کوي.

د جهادي دورې په سلسله کې

چې کله کوټ ته لاړ، نو مخلص (سپرغی) ورسره ځان لازم کړ او شیخ ته یې ویل چې ما ځان سره د لارې ملګری کړه، سره ددې چې دغه وخت هغه د بټي کوټ مسؤول ټاکل شوی و، خو ویل یې چې زه حافظ صیب ته وایم چې ما د بټي کوټ مسؤول په ځای د شیخ جلال الدین محافظ وټاکي، خو بیا ورته شیخ صیب قناعت ورکړ او په خفه زړه رخصت شو. ددې څخه وروسته شیخ صیب هسکې مېنې ته لاړ، هلته د نورو مجاهدینو ترڅنګ عمر کاروان د زیاتې مینې او خلوص اظهار وکړ او له بیاناتو یې استفاده وکړه. په تمکین کې لر بر د هر کور، هر موټر، هر مسجد او حتی هر مجاهد په ایم پي تریانو کې د شیخ صیب بیانات اچولي وو، او هر خوا د همدې بیاناتو غږونه اورېدل کېدل.

د تمکین ټولو مجاهدینو شیخ صیب سره له حده زیاته مینه کوله، تقریبا شل کسه مشرانو مجاهدینو حافظ صیب ته دا وړاندیز کړی و، چې مونږ شیخ صیب سره محافظین او خادمین وټاکه، خو حافظ صیب ورته د سلمان خراساني په شمول پنځه تکړه ملګري ورکړي وو، چې هره لحه به ورسره یوځای وو.

شیخ صیب پدغه ټولو سیمو کې مجاهدین قتال او د طالبانو خلاف جګړې ته راوبلل، هغه خلک چې د طالبانو په ارتداد کې یې شک کوو، د شیخ د وضاحت او مدللې څېړنې وروسته د هغوی شکوک هم د منځه لاړل، او بیخي هر مجاهد استشهاد او انغماس ته تیار شو. د دار الکفر څخه خواصو او عوامو د شیخ صیب دعوت ته لبیک وویلو، او د هجرتونو دوامداره لړۍ شروع شوه. او د خلافت په لیکو کې د شیخ صیب لسګونو شاګردانو قرباني ورکړه او ځېنې لا هم ددې مبارک صف لارویان دي. ثبتهم الله على الحق.

کله چې شیخ صیب د تمکین له یو طرف دورې څخه راوګرځېد نو حافظ صیب عالي شورى ته وغوښت، او هلته یې د المکتب الشرعي مسؤول وټاکه، چې هغه وخت ددرې اداراتو څخه عبارت و، دعوت، حسبه او شرطه. شیخ صیب شپه او ورځ کوشش وکړ چې دعوت او د منکراتو مخنیوي په پار مؤثر او چټک اقدامات ترسره کړي، د اداراتو نظم یې راجوړ کړ، هرې سیمې ته یې د ادارې ملګري ولیږل، د نازیانو څخه ګورګورۍ پورې یې خپل ملګري خواره کړل او لازمې سپاربښتنې یې ورته وکړې، د پیښې او لته بند په شمول په ټولو سیمو کې یې د

زیارتونو په هکله د ورانولو فرمان صادر کړ، او خپله یې عملا نظارت کاوه.

ددې سره د مجاهدینو خطونو او سنګرونو ته یې دوامداره تګ راتګ درلود، او د عدلخیلو بیز په جنګ کې یې خپله شرکت وکړ، او دا غزوه یې د مفتاح الخیر په نوم ونوموله، او د معرکې په دوران کې یې مسلمانانو ته او خلیفة المسلمین أبو بکر البغدادي ته په عربي ژبه جامع کلمات وړاندې کړل.

بیا د امریکایانو او افغاني مرتدینو قوې سره په دویمه او دریمه ورځ جنګ کې هم شامل شو، چې دغه جنګ کې شیخ عبد الحسیب او سیف الاسلام مولوي صیب پشمول اکثر مشران زخمیان شوي وو، شیخ صیب د حافظ سعید خان په ملتیا د جنګ په شیبو کې په ټولو سنګرونو وګرځېد، مجاهدینو ته یې ډاډ ورکړ، مجاهدینو هم چې کله حافظ صیب او شیخ صیب په سنګرونو کې ولیدل نو حوصلې یې بیخي لوړې شوی، چې بیا یې داسې د شجاعت ډکې کارنامې وکړې چې انسان یې له تصور څخه عاجزه دی. یو مجاهد چې راکټ چي و، د پوستې څخه راروان ټانک یې هدف ګرځاوه چې پدې کې راکټ مرمۍ پوچه شوه، خو ددغه مجاهد زړه کې د غره په اندازه ایمان و، چې را روان ټانک یې په تش راکټ لانچر باندې وواهه، خو ټانک په تیښته بریالی شو. او پوسته یې دغه مجاهدینو ته پرېښوده.

شیخ صیب په تمکین کې یواځې درې میاشتې تیرې کړې وې خو د الله په مرسته یې دومره کارونه وکړل چې عام خلک یې په کلونو کې نشي کولای. ذلك فضل الله يؤتيه من يشآء.

خلاصه دا چې شیخ صیب په تمکین کې د یو مفتي، قاضي، سنګري مجاهد، محتسب، داعي، معلم، مدرب او یو خه رهبر حیثیت درلود. تقبله الله.

د شیخ مجاهد محمدي هجرت:

د شیخ صیب مشر ورور شیخ مجاهد محمدي نومېده، چې یو پیاوړی او جید شیخ و، د علم، مضبوطې حافظې، خایسته اخلاقو، تواضع، حیاء، شجاعت او د ظاهري حسن مجمع وه، لمړۍ زده کړې یې په پیښور کې له عرب استاذانو څخه کړې وې، بیا کراچۍ مشهورې مدرسې جامعه أبي بکر ته لاړ او دفراغت سند یې د ګوجرانوالې مشهورې مدرسې محمدیې څخه ترلاسه کړی و. د فراغت څخه وروسته د پاکستان په مختلفو مهمو ښارونو کې یې درس تدریس او خطابت کړی دی، الله عزوجل ورته عربیت او خطابت فن کې خاص مهارت ورښلی و، تر دې

چې پنجاب طرف به ورته خطیب الاسلام لقب ورکول کیده. د ملګرو د مدیریت ښه وړتیا یې درلوده، د

کلک عزم او مضبوط جسم خاوند و. جهاد سره یې بې کچه مینه درلوده. د امریکایي اشغال پر وړاندې یې کلکه مبارزه کړې ده، د کنړ او ننګرهار مختلفو محاذونو ته حاضر شوی او ډیری سټړیاوې یې ګاللي، او د ځېنو محاذونو رهبري یې هم کړې. د پاکستان حکومت پرضد مبارزې ته یې زیات خلک چمتو کړي و، څو ځل پرې استخباراتو چاپه وهلې خو الله عزوجل ترې ژغورلی، په مختلفو ساحو کې ممنوع الدخول اعلان شوی و، د اسلامي خلافت سرګرم داعي و، او د شیخ جلال الدین هجرت پر وخت یې غوښتل چې له شیخ صیب سره یوځای هجرت وکړي، خو هغه له ځان څخه وروسته پاتې کړ، چې وروسته به راشي.

هماغه وه چې شیخ صیب پسې دوه میاشتې وروسته یې د خپل اهل وعیال سره هجرت وکړ، او د ژوند یواځنی هدف چې هجرت و، الله عزوجل پوره کړ، تمکین ته د شپې پرمهال راورسېد، بیخي نابلده و خو لار کې ورسره شیخ ابو عمر مخ شوی و، او خپل کور ته یې بوتلی و، هلته یې ورته ښه اکرام کړی و او سهار ناوخته یې بیا رخصت کړی و.

ورځ دوه وروسته شیخ مجاهد محمدي، د شیخ جلال الدین، شیخ سلمان خراساني او سیف الاسلام مولوي صیب سره په ګډه حافظ سعید خان ته ورغلل، هلته یې ورسره لاس په لاس بیعت وکړ. حافظ صیب ورته سپاربښتنه وکړه چې کور دې برابر کړه، چې د اسلامي نظام خدمت ته جوګه شې.

د شیخینو شهادت:

د شیخ صیب جلال الدین د هجرت

دریمه میاشت شروع وه، او د شیخ مجاهد محمدي د هجرت لسمه ورځ وه، د ۱۴۳۶ قمري کال د محرم الحرام لمړی نیټه وه، د معسکر مسؤول بلال استاذ لخوا ورسره اړیکه ونیول شوه چې تربیتي دوره فارغیږي او تاسې یې اختتامي مجلس ته راشئ، بلال استاذ ورته په مخابره کې شفر ورکولو سره د مامند خروه سیمه یاده کړې وه، خو شیخ صیب شفر کې خطا شوی و او هغه خیال دا و چې استاذ د مامند لته بند انتظار ګاه یادوي. دواړه شیخان د زید، اسامه او نورخان ډرایور سره انتظار ګاه ته راغلل. په دغه وخت مونږ بهر پیړې ته ولاړ و، چې سپینې کرولا څخه دوې راکوز شول، او پورته راوختل، ما سره څنګ ته د شیخ جلال الدین یو شاګرد هم ولاړ و، کله چې شیخان رانږدې شو نو دا ور وړاندې شو او دواړه یې تالاشي کړل، که څه هم ددې ملګري مخ پټ و ،خو شیخ دومره ذهین او زیرکه و چې خپل شاګرد یې وپیژانده ، په مېنه یې ورغږ کړ : ماشاء الله فلانکیه څنګه یې ؟

په لومړیوکې تمکین نا اشنا نظام او مظبوط اصول و ، چې ټولو مشرانو او کشرانو ته یو ډول و ، او هیڅ مشر هم په دې نه خفه کیده چې د هغه اصولو لاندې به کله راتللو نو خوشالیدل به ، چې له هغې یو هم په ځېنو ساحو کې د تالاشۍ اصول و .

بیا یې مونږ سره روغبړ وکړ، دننه لاړو، ملګرو ورته چای راوړ،د شیخ مجاهد خوله بیخي له خندا ډکه وه، خو شیخ جلال الدین دغه ورځو کې یوه پیچیده قضا څخه ایله فارغ شوی و، ځکه په سر یې درد و. خو کله چې خبر شو چې دوره خو دلته نه فارغیږي ،نو سخت خفه شو چې مونږ ځای خطا کړی، خو دلته راتګ له امله یې آخري دیدن زمونږ په مقدر و، ملګرو سره یو ساعت کیناست او بیا یې وعده وکړه چې ان شاء الله ستاسې دورې فراغت مراسمو ته به درځم او بیا رخصت شو.

زمونږ څخه چې لاندې تللی و ، هلته یې شیخ منصور او شیخ ابو عمر سره هم آخري ملاقات کړی و، د راتلونکي جمعې کاروانه یې سره تقسیم کړي و، شیخان دواړه کور ته په لار وو، چې اسدخیلو پل سره یې عباس قاري صاحب ولید، هغه له کوټ څخه د شیخ صیب ملاقات او د اداري راپور ورکولو ته راغلی و، شیخ صیب خپل ملګري اسامه ته وویل چې ته کوز شه او عباس قاري صیب یې ځان سره موټر کې کیناوه، بیا هماغه وه چې مازیګر ناوخته مو یو درونـد غږ تر غوږه شو، خو لا هم مونږ خبر نه و، ماخستن ناوخته خبر شو چې پدغه ډرون برید کې شیخان صاحبان د خپلو دریو ملګرو په شمول د ویشتل شوي دي . تقبلهم الله. دا نو زمونږ د ژوند تر ټولو ترخه شپه وه، مونږ لا هم په تردد کې و ، چې شاید یو خو به ژوندی وي، شپه بیخي اوږده شوه، چې کله سهار شو، د معسکر وخت مو هم پوره و، ټول ملګري د تاسیسي لپاره خروې ته روان شو، چې په سور کمر کې بلال استاذ ولاړ و، مونږ یې له نورو ملګرو راجدا کړو، او کلکه غاړه یې راکړه، له سترګو یې اوښکې روانې وې نو مونږ هم پوهه شو چې نور دې خبره کې د شک او تردد مجال نشته، خبره یقیني ده....

بلال استاذ پورته د شیخ منصور کور ته وخیژولو، هلته شیخ عبد الحسیب هم ناست و، او د نیابت یې اوله ورځ وه، مونږ ته یې زیاته تسلي راکړه، او شیخ صیب جلال الدین یې خپل استاذ وباله خو کله چې مونږ د هغه په خبرو خپل ډاډ ترلاسه کړ نو بیا د هغه اوښکې بې اختیاره روانې شوې... او دا الفاظ یې زما اوس هم په یاد دي، ویل یې: شاید چې بیا د شیخ جلال په شان عالم هیچرې ونه وینم!

بیا د دواړو شیخانو کورونو ته لاړو، زیات ملګري ډاډ او تسلي ته راتلل، شیخ منصور، عمر کاروان، سیف الاسلام مولوي صیب، طاهر مولوي صیب په شمول زیات ملګري راتلل او هر یو خپله برخه ډاډ ګیرنه راکوله. بیا د شیخانو قبرونو ته لاړو، پنځه قبرونه په قطار و، د شیخ مجاهد، شیخ جلال الدین، قاري عباس، نور خان او زید د ټولو قبرونه د سنت طریقې بیخي موافق جوړ و، د خپلو خپلوانو څخه لرې دهجرت په دیار کې د یو خړ غره په ډډه کې خښ شول. تقبلهم الله أجمعین.

د خالد (ضیاء الاسلام) هجرت:

د شیخانو شهادت څخه لږه موده وروسته د شیخ صیب کشر ورور چې خپل نوم یې ضیاء الاسلام او شفري نوم یې خالد و، هجرت وکړ، ضیاء الاسلام چې د قرآن کریم جېد قاري و، او د مکتب ترځنګ یې درې درجې دیني سبقونه هم ویلي و. د ماشومتوب راهیسې د غیرتي خوی خاوند و، دار الاسلام ته یې هجرت وکړ، دلته د تاسیسي دورې څخه وروسته د خلافت جامعه کې یې خپلو سبقونو ته دوام ورکړ، او ماسپښین یې د یوې حلقې استاذي هم کوله، خو لږ وروسته قاري خالد هم خطونو او سنګرونو ته مخه کړه، او استشهادي کتیبه کې یې نوم لیکنه وکړه. او د مسؤول قاري محسن لخوا خطونو ته ولیږل شو، هماغه وه چې ګورګورۍ خطونو او رباطونو پورې یې ځان هر سنګر ته ورساوه ، یوه ورځ چې وحشي امریکایانو او افغاني مرتدینو د فضا او ځمکې له لارې د ګورګورۍ په تمکین برید وکړ، دې بل طرف د خلافت انغماسیانو هم د الله د رضا او اسلامي نظام ساتنې په پار ځانونه چمتو کړل، مجاهدینو انغماسۍ لپاره نومونه لیکل، د هغه ملګرو مسؤول ډاکټر بلال راته کیسه کوله چې خالد د دوه نورو ملګرو سره یوځای راغی او راته یې وویل چې زمونږ نومونه هم انغماسیانو کې ولیکه، ما ورته کړه چې تاسې درې واړو سترګو نظرونه کمزوري دي، چشمې مو اچولي دي، نو تاسې باید دفاع لپاره وروستي صفونو کې نومونه ولیکئ، وایي خالد راته بد بد وکتل او ویې ویل چې دفاع لپاره مو بوځې نو مونږ بیخي تا سره نه ځو، لاړل او د کتیبة الفتح مسؤول قاري سعید سره یې خبره وکړه او هغه هم د دوی شوق او جذبې قدر کولو له امله په لمړیو انغماسیانو کې د دوی نومونه ولیکل، او بیا هماغه وه چې د نورو ملګرو سره دوی هم تر ټولو مخکې خپلو پوستو ته ځانونه ورسول، خو متاسفانه چې پوستې ته داخلیدو وروسته د یو مرتد لخوا د خالد په لور ګرنیټ راوغورځول شو، چې دده په خیټه کې چرې لاړې او زخمي شو. پوسته فتحه شوه، مرتدین الله عزوجل ذلیله کړل، او تر څلویښتو زیات مرداران هم شوي وو، مجاهدینو حمدونه ادا کړل او بیا یې زخمي خالد راواخستو، لوړې مینې د لارې یې اوغز ته راوړ، چې دلته یې وکتلو نو د ګرنیټ چرې یې نس ته داخلې شوې وې، او کولمې یې ورته سورۍ کړې وې، د اوغز ډاکټرانو که څه هم ددې څخه مخکې د کولمو عملیات (آپریشن) نه و کړی، خو دا یې لمړی عملیات (آپریشن) و، او کامیاب شو، مونږ هم ورغلو، ومو کتل، سخت راته خوشحاله شو. د هغه د سفر او حضر ملګري اسد الله بدخشاني تقبله الله او ضیاء الله کنړي تقبله الله ورسره په خدمت موظف و، چې زمونږ حضور ته یې هیڅ اړتیا نه درلوده، او د ډاکټرانو لخوا یې د صحت ډاډ راکړل شو، او د طبي اصولو موافق یې مونږ رخصت کړو. د زخم په حالت کې هم خالد د الله عزوجل ذکر کاوه، بیا څو ورځې وروسته یې آپریشن بیرته شکیدلی و، او بیا یې ورته عملیات کړي وو، چې دغه وخت مونږ په یو سفر و، کله چې بیرته راوګرځیدو او دا اراده مو درلوده چې اوغز ته یې پوښتنې ته ورشو، په لار کې خبر شو چې هغه شهید شوی دی او خښ کړای شوی هم دی. بیا څه موده وروسته مونږ اوغز ته لاړو، له یو بل څخه مو ډیره دده د قبر پوښتنه وکړه، خو چا چې خښ کړی و، هغوی مو پیدا نه کړل، او تر ننه ددغه ګلالي خالد قبر لا درکه دی. تقبله الله.

هو! دا و هغه درې ستوري چې د خراسان پر افق وپړقیدل ، وځلیدل ، دومره رڼا او ځلا یې وشیندله چې د ستر هدف په لور د تللې لار ټول تیاره ګوټونه یې د خپلې هم رکابه قافلې لپاره روښانه کړل ، د ېوې میړنۍ مور په غیږ کې پالل شوي دې دریو ورونو د تاریخ بابونه په خپلو وینو رنګین کړل تقبلهم الله ، د شیخ جلال الدین او ورسره په شهیدو شویو ورونو په علمیت ، اخلاقو ، کارنامو او حماسو کتابونه لیکل کیږي ، هر یو ملګري سره یې په هره برخه کې ځانګړې خاطرې او کیسې دي خو د مجلې ددې برخې له برداشته بهر دي موږ به یوازې د شیخ جلال الدین تقبله الله په اړه دده د یو بل ملګري مجاهد شیخ څو خاطرې تاسې سره شریکې کړو :
[فضل الکریم المتعال]

[في ذکر بعض فضائل الشیخ جلال]

دشیخ جلال الدین تقبله الله سره زما ناسته او ولاړه صرف د دین په وجه منځ ته راغلې وه ، په دی کې بل هیڅ کوم سبب داخل نه و، شیخ تقبله الله د خایسته اخلاقو سره سره د ډیرې قوي او راسخې حافظې خاوند وو، په دې باب کې پرې الله لامتناهي پیرزوینه کړې وه ، دقران او حدیثو سره ، سره یې د عربي قواعدو هم راسخ علم درلوده ، یادمې شي چې کله ما دتقلید په رد کتاب

ولیکه ،نو جناب شیخ تقبله الله ته می دتقریظ د پاره ورکړ ، شیخ چی ماته ددې ثومره خوښي ښکاره کړه اوس مې هم د هغه هاغه کلمات یاد دي، چې دا د شیخ تقبله الله له کریمه عاداتو څخه وو چې که کوم ملګري کې به ثومره هم علمي کمزوري وه، نو کوشش به یی دا و چې د هغه حوصله افزایي وکړي او هغه ته هغه داد ورکړي چی دهغې په وجه د هغه د مطلوب کار سره شوق او دلچسپي نوره هم زیاته شي، شیخ تقبله الله سمدستي یو کاغذ ته لاس وروړد کړ، قلم یې له جیب څخه راوویسته او لیکل یې شروع کړل ، زما ګمان وو دوه دري کرښې تقریظ به په پښتو ژبه کې ولیکي، خو چې کله له لیکلو څخه فارغ شو او ماته یې ویل دا زما هغه اظهارات دي، چې ستا د کتاب متعلق مې ولیکل، ما چې کله خط ته وکتل نو د کاغذ دواړه مخه یې ډک کړي وو او لیکل یې هم په عربي ژبه کړي وو، عربي لیکل اسان هم نه دي او بیا داسې عربي سبحان الله چی ماثومره خلقو ته ښودلې هغوی اول داخبره کړی چی دا لیکل کوم عرب عالم کړي دي، عجم او داسې لیکل!!

ځکه په یو ځل مسلسل لیکل بغیر له دې چې نظر ثانی پری وشي او هغې کې دې صرفي او نحوي څه غلطۍ نه وي، دا یقیناً ګران کار دی ، شیخ رحمه الله سره زموږ د تعلق له جوړیدو لږ وروسته هغه هجرت وکړ،او د اسلامي دولت خراسان ولایت ته راغی، کله چې دهغه صوتي بیانات او مرئی اصدارات نشر شول ،نو ددین دشمنان ډیر وردیدل ، تا به ویل چی ګویا دپیښور زړه له سینې څخه وتلي دی ، موحدین مسلمانان د شیخ تقبله الله په دې کار خوشحال وو، خو هغه خلق چې د ای ایس ای د ادارو طرف دار وو ، هغوئ نو لولپه شول ، ځکه د شیخ تقبله الله تقوی، صداقت او د باعمله علم قیصی او ثبوتونه ټولو ته رسیدلي وو، د هغه په هجرت او خلافت سره په بیعت کولو هغو خلقو ته هم د خلافت دحقانیت جانب ښکاره شو چې هغوئ د بلاعمه درباري ملایانو او دا مدني شیخانو او د مرتدو حکامو په شیطاني وسوسو څخه په شک او تردد کې واقع شوي وو ﴿لِّيَهْلِكَ مَنْ هَلَكَ عَن بَيِّنَةٍ وَيَحْيَىٰ مَنْ حَيَّ عَن بَيِّنَةٍ ۗ وَإِنَّ اللَّهَ لَسَمِيعٌ عَلِيمٌ﴾ (ژباړه) تر څو هلاک کېدونکي له ښکاره دلیل سره هلاک شي او څوک چې ژوندی پاتي کېدونکي دي، هغه له روښانه دلیل سره ژوندي پاتې شي. په باوري ډول الله اورېدونکی او پوهېدونکی دی.

شیخ تقبله الله له کریمه عاداتو څخه داهم وه چې هغه به کوشش کولو چې هر ملګری د خیر په کار کی استعمال شي ،چې دا یقناً هغه کامله خیرخواهي ده ،چې الله تبارک وتعالی د انسانانو ترمنځه په هغوئ فرض ګرځولې ده ، شیخ تقبله الله دمخکې نه هم جهاد سره بی حده محبت وو او څو ځله یې د امریکایانو او نورو مرتدینو خلاف د موحدینو امیرانو په قیادت کی سنګرونو کی وخت تیر کړی وو، خو د هغه د درسونو یو مهم هدف هم دا وو، چې اسلامي امت اتفاق او یو والي طرف ته وهڅوي، نو د خلافت د اعلان څخه مخکې به یې د خلافت متعلق بیانونو کې د هغې یادونه کوله ، نو کله چې خلافت اعلان شو او په دې مطمئن شو چې دا د کوم کافر او یا مرتد نظام سره اړیکې نه لري، نو ددې طرف یی دعوت شروع کړ او ددې د حقانیت دلایل به یې مجالسو کی بیانول ،تر دې چې د لشکر خبیثه چې د ای ایس ای اداره ده، د هغوئ له طرفه شیخ تقبله الله د نیولو او اسیر کولو خسیس ناکام او مذموم کوششونه شروع شول ، شیخ تقبله الله ، الله تبارک وتعالی په خپل خاص فضل د دوئ له توطیو وساته او دشمنان یی الله رب کریم خائبین ،خاسرین وګرځول ، ماته رایاد شول کله چی زما والد ګرامي تقبله الله د خراسان ولایت ته هجرت وکړ او د خراسان د والي جناب حافظ سعید خان تقبله الله سره یې بیعت وکړ دا هغه زمانه ده چې ماته الله عزوجل تر دې دمه دهجرت توفیق نه وو راکړی ، ماته مې والد تقبله الله ټوله قیصه وکړه د هجرت په دغه زمانه کې چې د هغه د شیخ جلال الدین تقبله الله سره ملاقات شوی و، هغه راته پلار داسې بیانوي: زه یو مسجد کې ناست وم، ډیری نور مجاهدین هم وو چا راته وویل دلته نږدې د شیخ جلال الدین کور دی، په همدې خبرو کې وو، چې شیخ تقبله الله نوراني څیره مسجد ته رادننه شو، خو چې کله یې دخلقو ترمنځ په ماسترګی ولګیدی، نو بې حده زیات د خوشحالی اظهار یې وکړ او په غیږ کې یې کلک ونیولم او ډیر عجیب ، عجیب کلمات یې زما په مدح کې له خولې مبارکی څخه راووتل ، پلار مې ویل چې : بیا کله زه د جناب حافظ سعید خان تقبله الله په امر بیرته راستنیدم ، نو شیخ تقبله الله راسره بیا مخامخ شو او د الله په امانی په وخت کی یې راسره ښکلی صحبت وکړ او بیا یې جیب ته لاس کړ او پنځه زره ۵۰۰ کالدارې را وویستې ماته یې راکړی ، چې دا به دې زوئ ته ورکړې او ورته به ووایي چې که د هجرت کولو خرچه درسره نه وي، نو په دې د لارې خرچه کیږي، دلته علماؤ ته ضرورت دی او هجرت فرض شوی دی ، فوراً هجرت وکړه او راشه ، ځکه مجاهدین د شرعي احکامو زده کړو ته حاجت لري او دا د اهل حقو علماؤ فرض جوړیږي، چې د حق دعوت او خدمت وکړي والد صیب مې ویل: چې کله زه راروان شوم ،نو د ډیر مزل د کولو نه وروسته راپسې شاته یو مجاهد اوازونه کول او رامنډې یې وهلې ،مونږ ودریدو چی دا به څوک وي او څه به وایي چې کله مونږ ته راورسیده راغی نو هغه د شیخ تقبله الله د ملګرو څخه یو مجاهد وو لاس کی یې خط نیولی وو، خط یی راکړ او راته یې وویل چی شیخ تقبله الله وایي چې دا خط به دې هم زوئ ته ورکړې والد تقبله الله مې ویل : چی ما کله خط خلاص کړ، نو خط کې یې د اسلامي خلافت د حقانیت او ددې د مخالفینو د ردت مختصر،مختصر دلایل او بیا یې ماته د هجرت کولو په تاکید سره لیکل کړی وو، والد صاحب مې راته وویل :چې په دیر تاکید یې له تانه دهجرت کولو مطالبه کړې وه او ستا د ضرورت یې یادونه یي کړې وه، خو چونکه لاری ډیرې خطري وی، د افغان مرتدینو بې شماره پوستې او د وطني طالبانو هغه غلچکی چیک پاینونه چې د پاکستان په امر یې ځای پر ځای ددې د پاره اچولي وو چې څوک د اسلامي خلافت لیکو ته ورنه شي او یا هم له هغه ځایه بل طرف نقل نه شي، نو د ملګرو په مشوره مونږ دغه خط هلته د یو ګټ څخه لاندې کیخوده ،ددې یرې څخه چې که دا چرته د تالاشۍ په وخت کی رابښکاره شي، نو الله مه کړه زما اود ملګرو د خطر سبب نه شي، نو په دې مو فیصله راغله چې دغه لیک کې چې کوم مقصود دی ، دابه ورته زه په خوله ووایم اوس عذر دی، دا ورته نه شو وړلی بس په همدی مو د ملګرو سره مشوره راغله او خط مو هلته د ګټ لاندی کیخوده او راروان شو .... نو دا د شیخ متعلق د خیر خواهۍ او د حق طرف د دعوت او جهاد سره د مینې ، محبت او شوق څو کلمې وی چی تاسو ته مو ذکر کړې.

بیا د غیرت او بیا د ننگ ورځې دي
ځوانانو پاڅئ چې د جنگ ورځې دي

بیا مو توحید، ایمان خطر سره مخ
بیا د پاڅون، بیا د غورځنگ ورځې دي

جگړه راغلې ده د ښار کوڅو ته
دي مشرکین په وینو رنگ، ورځې دي

بیا د نړۍ کفر اشر کړی دی
د موټر بم د درانه کړنگ ورځې دي

هله را واخله د بابا توره دې
همدا موقع ده ورک کړه زنگ، ورځې دي

حورو ته ورم ډالۍ پرهر سینه مې
په مونږ یې دغه د قلنگ ورځې دي

د سیرت درسونو ته پوځي کتنه !

۷

په مدینه کې د قوت او زور د بنسټونو له پیاوړي کولو وروسته!

د مسجد له جوړولو وروسته نبي صلی الله علیه وسلم د ټولنې د لومړي مشکل د حل لپاره تیزي وکړه، چې هغه کورني جنګونه و، هغه جنګونه چې سلګونه کاله یې دوام درلود، قبائل یې ټوټه ټوټه کړي وو، ګل ګل ځوانان یې خوړلي وو، او دې جنګونو یهودو ته موقع ورکړې وه چې د عرب ټاپو وزمې په دغې مزیدارې ځمکې پښې ټینګې کړي، نبي صلی الله علیه وسلم د دواړو قبیلو له منځه د کینې د ریښو لپاره کوښښ پیل کړ، او د مسلمانانو ترمنځ یې د ورورۍ تړون وکړ.

ابن اسحاق فرمایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپلو ملګرو ترمنځ د انصارو او مهاجرینو ترمنځ د ورورۍ تړون وکړ، د الله لپاره وروري وکړي، دوه دوه وروڼه شئ.

په دې کار انصار ډیر زیات خوشاله شول، هغه قدم چې دوی پکې د خپل امید پوره کېدل ولېدل، دا هغه سوله وه چې یثرب ترې سلګونه کلونه بې برخې و، مهاجرین هم خوښ شول ځکه چې د ورورۍ نتیجه دا شوه چې د خپلو انصارو وروڼو په غېږ کې ووسیدل او هغوی ورسره د سخت فقر او نورو مشکلاتو د کمولو او ختمولو په برخه کومک او مرسته کوله، هغه چې مهاجرین ورسره د خپل اصلي وطن څخه د هجرت کولو وروسته مخ شوي و، او هلته یې خپل ټول مالونه پرېښي و چې قریشو ټول واخیستل.

یوه نا آشنا واقعه چې د ستاینې څخه یې کلمات ناتوانه دي، د سعد بن الربیع او عبدالرحمن بن عوف ورورلي وه، سعد بن الربیع، عبدالرحمن بن عوف ته نیم مال وړاندې کوي او بیا ورته وایي:

زه په انصارو کې د ډیر مال خاوند یم، مال دوه برخې کوم، او دوه ښځې مې دي، ویې ګوره هر یوه چې دې خوښه شوه ماته یې نوم واخله، زه یې طلاقوم چې عدت یې تېر شو واده ورسره وکړه.

عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه ورته وویل: الله دې ستا په أهل او مال کې برکت واچوي... بازار مو چیرته دی، د بني قینقاع بازار یې ورته وښود او هغه رضي الله عنه په کې تجارت پیل کړ.

نبي صلی الله علیه وسلم په دې کار سره یو بریالی قدم پورته کړ، تر څو ټولنه په مضبوطو ستنو ودریږي، له دې قدم څخه دعوت په پوځي برخه کې ډیره لویه ګټه واخیسته، د اوس او خزرج قحطاني قبائل به وخت په لویو کورنیو جنګونو کې تیراوه چې په جزیرة العرب کې ټولو ته معلوم و، له دغو جنګونو یهودو ګټه اخیسته تر څو په سیمه خپل واک ټینګ کړي.

خو مدینې ته د نبي صلی الله علیه وسلم له ننوتلو وروسته همدوی اساسي پوځي قوت و چې د اسلام پرې په جزیرة العرب کې د توحېد د خپرېدو په برخه کې اعتماد و.

نور مشکلات هم و چې نبي صلی الله علیه وسلم یې باید هرو مرو حل کړي، دا مشکلات په مدینه کې د غیر مسلمو اوسېدل و، یهود دلته اوسېدل او هغوی درې قبیلې وې:

د بني قینقاع قبیله
د بني النضیر قبیله
د بني قریظه قبیله

او د مدینې منورې په شمال کې د یهودو یو لوی شمېر پروت و چې هغه د خیبر یهود و.

نبي صلی الله علیه وسلم د دې کار سره داسې چلند غوښت چې د مسلمانانو مصلحت پکې وي او په دغه وخت کې اسلامي دولت جوړ شي.

نبي صلی الله علیه وسلم تر دې مهاله د دوی په خلاف کوم دریځ نه و نیولی، نه یې اسلام ته په داخلېدو مجبور کړي و، بلکې د اسلامي دولت او یهودو ترمنځ تړون وشو او د تړون محتوا په لاندې ډول وه:

- په ګډه له مدینې دفاع کول
- په یو بل تجاوز نه کول او ښه ګاونډیتوب
- د عقیدې آزادي

په نبوي هجرت د شپږ میاشتو له تېریدو وروسته مدینه د اسلام حقیقي مرکز وګرځېد، نافذیدونکې خبره او غالب واک په کې د مسلمانانو و، دا هغه څه و چې قریشو ترې ډار درلود او په ټول توان یې هڅه وکړه چې مسلمانان له هجرت کولو څخه منع کړي، مګر وخت تېر و او دوی اوس درک کوله چې مخې ته یې خطر را روان دی.

په نبي صلی الله علیه وسلم شرعي قوانین رانازلېدل

لومړی د وسلې د پورته کولو اجازه وشوه د اسلام د دښمنانو په خلاف، په داسې حال کې چې له هجرت څخه وړاندې د مسلمانانو لپاره د جنګ کولو اجازه نه وه، د جهاد فرضیت په لاندې څلورو مرحلو کې شوی دی:

لومړۍ مرحله:

مسلمانان په مکه کې وو د نبي صلی الله علیه وسلم نه یې وغوښتل چې د جنګ کولو اجازه ورته وکړي، هغه ورته ځواب ورکولو: "صبر وکړئ ماته په جنګ کولو امر نه دی شوی"

دوهمه مرحله:

الله تعالی فرمايي: {أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقْٰتَلُونَ بِأَنَّهُمْ ظُلِمُوا وَإِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ نَصْرِهِمْ لَقَدِيرٌ} ژباړه: «هغو کسانو ته (د جګړې) اجازه ورکړه شوه چې پر خلاف يې په جګړه لاس پوري کيږي، ځکه چې هغوی مظلومان دي؛ او الله په يقيني ډول د هغوی د ملاتړ وس لري.» په تفسير د الوسي کې دي چې أبو عمرو، أبوبکر او يعقوب "يقاتلون" د مبني للفاعل په صيغه ولوست، يعنې دوی غواړي چې په راتلونکې کې د مشرکينو سره جګړه وکړي، په دې باندې حرص کوي، (بأنهم ظلموا) نه مراد دا دی يعنې په سبب ددې چې پر دوی ظلم شوی دی.

که فکر وکړې، د اسلامي دولت حال او د اسلامي پوخ وضعيت ته کتو د قتال حکم په تدريجي ډول راغلی، خو کله چې د دولت ستنې پياوړې شوې او زور يې يو څه پيدا کړ دريمې مرحلې ته لاړل.

دريمه مرحله:

په دې مرحله کې د هغه چاسره جنګ واجب و، څوک چې د مسلمانانو سره جنګيږي، الله تعالی فرمايي: {وَقَٰتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ الَّذِينَ يُقَٰتِلُونَكُمْ وَلَا تَعْتَدُوٓا إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ} ژباړه: «او تاسې د الله په لار کې له هغو کسانو سره وجنګيږئ، چې ستاسې سره جنګيږي، خو تيری مه کوئ چې الله تيری کوونکی نه خوښوي.»

له دې وروسته وروستی مرحله راغله چې د ټولو کفارو سره په کې د جنګ اعلان و.

څلورمه مرحله:

الله تعالی فرمايي: {وَقَٰتِلُوا الْمُشْرِكِينَ كَآفَّةً كَمَا يُقَٰتِلُونَكُمْ كَآفَّةً وَاعْلَمُوٓا أَنَّ اللَّهَ مَعَ الْمُتَّقِينَ} ژباړه: « له مشرکانو سره وجنګيږئ، لکه څنګه چې هغوی ټول يو ځای ستاسې سره جنګيږي. او وپوهيږئ چې الله د پرهېزګارانو ملګری دی.»

بيا د جهاد، قتال، د منافقينو سره د سختۍ باره کې آيتونه راغلل، د جنګ د اجازې سره سم نبي صلی الله عليه وسلم د صحابه وو په روزنه پيل وکړ، د جګړې چلونه يې ورته وښودل او له هغوی سره يې په تمرينونو، جګړو، او نمايشونو کې ګډون وکړ.

په دې موده کې د يهودو په وسه کې و چې د دوی او د نبي صلی الله عليه وسلم ترمنځ د شوي تړون په پايله کې خوشاله ژوند وکړي، په خپلو عقيدو، نفسونو او مالونو ډاډه وو، دا د دوی لپاره غوره وه چې همداسې مخته تللي وای، مګر د دوی په نفسونو کې جرړې ويستونکې طبيعي خويونه دوی دې ته پرېنښودل، بلکې د مشکلاتو په جوړولو او د مسلمانانو ترمنځ د فتنې په خپرولو يې پيل وکړ.

د يهودو کينه او غم هغه وخت لا زيات شو چې دوی په بشپړ ډول پوه شول چې مدينې ته راغلی رسول ريښتونی محمد بن عبدالله القرشی دی، هماغه نبي چې وعده يې شوې وه، هماغه نبي چې په اړه يې د دوی په کتابونو کې ليکل شوي و، خو پرځای ددې چې ايمان راوړي؛ د دوی نفسونه له کينې او نفرت څخه ډک شول، ټول وسائل يې په کار واچول چې د دغه دعوت مخه ونيسي، کله به يې چلونه کول، کله به يې د مکې د قريشو سره کومک کاوه، کله به يې د منافقينو سره کومک کاوه، او کله به يې د مسلمانانو ترمنځ فتنې اچولې.

د دوی د دغه دوو لويو علماوو زړونه د نبي صلی الله عليه وسلم په تاکيد سره له پريشانۍ او غم څخه ډک شول. دا دواړه يو حيي بن أخطب نومېږي د مؤمنانو د مور صفيې رضي الله عنها پلار او د هغه ورور ياسر نومېدل.

ابن اسحاق فرمايي: ماته عبدالله بن أبي بکر بن محمد بن عمرو بن حزم دا خبره وکړه: هغه له صفيې رضي الله عنها څخه روايت کوي فرمايي: زه پلار او کاکا (ياسر) ته ډيره ګرانه وم، هيڅکله له دوی دواړو سره نه يم مخامخ شوې مګر غېږ کې به يې نيولم، کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم مدينې ته راغی او په بني عمرو بن عوف کې د قباء ځای کې استوګن شو، پلار او کاکا مې سهار ووتل او ماښام ته نږدې راغلل.

هغه فرمايي: دوه ستړي، ستومانه و، مات رامات او نور يې مزل نه شو کړای.

هغه فرمايي: نو زه داسې په خوشالۍ ورغلم، لکه هر وخت به چې ورتلم، قسم په الله دواړو کې راته هيچا نظر ونکړ، سره د دې چې د غم نښې پرې ښکاريدې.

له کاکا مې واوريدل زما پلار ته يې ويل: آيا دا هماغه دی؟

پلار مې وويل: هو قسم په الله

کاکا مې وويل: آيا ته يې پيژنې او ثابتوی يې شې؟

پلار مې وويل: هو

کاکا مې وويل: نو په اړه يې څه دريځ لرې؟

پلار مې وويل: چې تر څو ژوندی يم دښمني به ورسره کوم.......!

دا خبره چې د سيرت په کتابونو کې راغلې له هغو مشهورو خبرو څخه ده چې د يهودو سخته دښمني له اسلام سره ترې معلومېږي، حافظ عراقي بيا وايي چې دا جمله منقطع ده د عبدالله بن أبی او صفيې ترمنځ.

جريان لري...

لکه ستوري چې په
شنه آسمان ځلیږي

لکه ستوري چې په شنه آسمان ځلیږي
خلافت به په دې ټول جهان ځلیږي

بیا سپین غر به د زمرو زلمو سنگر شي
تور بیرغ به په کې هغه شان ځلیږي

بیا به شرک او ارتداد له نړۍ ورک شي
بیا به هر لور ته دا سپین قرآن ځلیږي

څوک مرتد شول، څوک بې ننگه په کور ناست دي
خو ډگر کې لا ولاړ غازیان ځلیږي

له کشمیر تر اندلسه یو دولت وي
په اقصا مو تور بیرغ رپان ځلیږي

زندان مات وي، آزادي وي، خوشالي وي
ربه زړو کې مو دا یو ارمان ځلیږي